# باور

غورځنګ

# اساسنامه

غورځنګ

۱۴۰۰- وری

بسم الله الرحمن الرحيم

# د باور غورځنګ اساسنامه

د عبوري تصویب مرجع: د غورځنګ مرکزي کمېټه

د ۱۴۰۰ل کال د وري میاشت

# فهرست


| شماري | عنوان | د مادو شمېر | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | **لومړی فصل** | ۴ مادي | ۱ |
| ۲ | موخي او اصطلاحگاني | | ۱ |
| ۳ | **دويم فصل** | ۹ مادي | ۵ |
| ۴ | تشکيلات | | ۵ |
| ۵ | بنسټگره شورا | | ۵ |
| ۶ | کلي/گذر شورا | | ۵ |
| ۷ | ولسوالی/ناحيي شورا | | ۵ |
| ۸ | ولايتي شورا | | ۵ |
| ۹ | رهبري شورا | | ۶ |
| ۱۰ | مرکزي کمېټه | | ۶ |
| ۱۱ | د غورځنگ د مشر ټاکنه | | ۶ |
| ۱۲ | د غورځنگ مرستيال | | ۶ |
| ۱۳ | دارالانشاء | | ۷ |
| ۱۴ | **دريم فصل** | ۱ ماده | ۷ |
| ۱۵ | مالي/بوديجوي چارې | | ۷ |
| ۱۶ | مالي سرچيني | | ۷ |
| ۱۷ | **څلورم فصل** | ۸ مادي | ۷ |
| ۱۸ | عمومي مسؤوليتونه او صلاحيتونه | | ۷ |
| ۱۹ | د غورځنگ مشر | | ۷ |
| ۲۰ | د غورځنگ مرستيال | | ۸ |
| ۲۱ | مرکزي کمېټه | | ۸ |
| ۲۲ | دارالانشاء | | ۹ |
| ۲۳ | رهبري شورا | | ۹ |
| ۲۴ | ولايتي شورا | | ۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۵ | ولسوالی/ناحيي شورا | | ۱۰ |
| ۲۶ | د کلي /گذر شورا | | ۱۰ |
| ۲۷ | **پنځم فصل** | ۱ ماده | ۱۰ |
| ۲۸ | د غړيتوب شرايط | | ۱۰ |
| ۲۹ | **شپږم فصل** | ۲ مادې | ۱۱ |
| ۳۰ | د عزل حالتونه | | ۱۱ |
| ۳۱ | **اووم فصل** | ۲۶ مادې | ۱۲ |
| ۳۲ | تفصيلات | | ۱۲ |
| ۳۳ | د کلي /گذر شورا | | ۱۲ |
| ۳۴ | د کلي او گذر شورا تشکيل، مسؤوليتونه او صلاحيتونه | | ۱۲ |
| ۳۵ | د کلي او گذر شورا غونډې او پرېکړې | | ۱۳ |
| ۳۶ | ولسوالی/ناحيي شورا | | ۱۳ |
| ۳۷ | د ولسوالی/ناحيی شورا تشکيل، مسؤوليتونه او صلاحيتونه | | ۱۳ |
| ۳۸ | د ولسوالی/ناحيی شورا غونډې او پرېکړې | | ۱۵ |
| ۳۹ | ولايتي شورا | | ۱۵ |
| ۴۰ | د ولايتي شورا تشکيل، مسؤوليتونه او صلاحيتونه | | ۱۵ |
| ۴۱ | د ولايتي شورا غونډې او پرېکړې | | ۱۶ |
| ۴۲ | رهبري شورا | | ۱۷ |
| ۴۳ | د شورا تشکيل، مسؤوليتونه، صلاحيتونه او د کار طرز العمل | | ۱۷ |
| ۴۴ | د رهبری د شورا غونډې او پرېکړې | | ۱۸ |
| ۴۵ | مرکزي کمېټه | | ۱۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۶ | د مرکزي کمېټې تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۱۹ |
| ۴۷ | د مرکزي شورا د غونډو راغوښتل او د پرېکړو لایحه عمل | ۲۰ |
| ۴۸ | بهرمېشتې کمېټې | ۲۱ |
| ۴۹ | د کمېټو تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۱ |
| ۵۰ | مشورتي بورډ | ۲۲ |
| ۵۱ | د مشورتي بورډ تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۲ |
| ۵۲ | مستقلې کمېټې | ۲۳ |
| ۵۳ | د کمېټو په هکله عمومي معلومات | ۲۳ |
| ۵۴ | مالي کمېټه | ۲۴ |
| ۵۵ | د مالي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۴ |
| ۵۶ | حقوقي کمېټه | ۲۵ |
| ۵۷ | د حقوقي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۵ |
| ۵۸ | د جلب او جذب کمېټه | ۲۵ |
| ۵۹ | د جلب جذب د کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۵ |
| ۶۰ | فرهنګي او مطبوعاتي کمېټه | ۲۷ |
| ۶۱ | فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۲۷ |
| ۶۲ | د کمېټې عمومي دندې | ۲۷ |
| ۶۳ | فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې تشکیلات | ۲۸ |
| ۶۴ | کمېټې د مشر مسؤولیتونه | ۲۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۵ | د مرستیال مسؤولیتونه | ۲۸ |
| ۶۶ | مشورتي شورا دندې | ۲۹ |
| ۶۷ | اجرایوي شورا | ۲۹ |
| ۶۸ | ویاندویان او شنونکي | ۳۲ |
| ۶۹ | ټاکنیزه کمېټه | ۳۲ |
| ۷۰ | کمېټي تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۳۲ |
| ۷۱ | د داخلي منازعاتو د حل کمېټه | ۳۳ |
| ۷۲ | د کمېټي تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه | ۳۳ |
| ۷۳ | د غورځنګ مشر | ۳۴ |
| ۷۴ | د غورځنګ د مشر په هکله | ۳۴ |
| ۷۵ | د غورځنګ د مشر مسؤولیتونه | ۳۴ |
| ۷۶ | دارالانشاء | ۳۵ |
| ۷۷ | د باور غوځنګ اخلاق او اصول | ۳۶ |
| ۷۸ | د غورځنګ د اساسنامي عمومي مادې | ۳۷ |
| ۷۹ | بېړنی او نه پیش بیني شوی حالت | ۳۸ |
| ۸۰ | د غورځنګ د ټاکنو مېکانېزم | ۳۸ |

**سریزه:**

باور غورځنګ په داسې حال کې رامنځته کېږي چې له بده مرغه په ټول هېواد کې ولسونو پر دولت په ځانګړي توګه حکومت او سیاسیونو خپل باور له لاسه ورکړی، د باور له منځه تلل هر ملت ډېر ژر پاشي او بهرنیو کړیو ته د لاس وهنې زمینه مساعده وي، او همدا لامل کېږي چې پاشلي ملتونو بیا د نورو هېوادونو تر غلامۍ لاندې ژوند کوي. باور غورځنګ له خپل نوم څخه څرګند دی ترڅو په ملت کې د باور کولو روحیه ژوندۍ او افغان ملت پر یوه ټغر راټول کړي.

افغانستان له تېرې نیمې پېړۍ راهیسې د جګړې، بې عدالتۍ، غربت، بې سوادۍ، بې اتفاقۍ او د نړیوالو د منفي سیالیو څخه کړېدلی او کړېږي. یوازې په تېرو نولسو کلونو کې لسګونه بهرني هېوادونه دلته راغلل، خو ټولو د خپلو ملي ګټو لپاره (سیاسي، اقتصادي او نظامي) کار وکړ. له بده مرغه په تېرو نولسو کلونو کې د افغانستان هېڅ حکومت هم و نه توانېدی چې د دې ملت په وضعیت کې دې د پام وړ مثبت تغیر راولي بلکې برعکس، د خپلو شخصي منفعتونو او منصبونو لپاره یې دا ټولې ناخوالې څو چنده کړې. نن دلته د انسانانو وینه تویول دود ګرځېدلی، نن دلته یو له بل څخه نفرت ویاړ بلل کېږي، نن فساد، غربت، بې سوادي، بې عدالتي، چاودنې، ترور او اختطاف د دې ملت په پېژندګلوي اوښتي، دا هر څه بدول غواړي، او دا بدلون به د همدې جغرافیې اوسېدونکي راولي، هغه که نن وي او که سلګونه کاله وروسته. تر کله به د مسیحا راتګ ته په تمه یوو؟ تر کله به لا ویده یوو؟ تر کله به فریاد کوو؟ تر کله به ظالم ته ګورو چې زموږ د اوښکو په سیند کې خپل د عیش کښتۍ وچلوي، تر کله به د نورو د نظریو او پالیسیو قربانېږو؟ تر کله به د معصومو مرغیو په څېر د ظالمو ښکاریو په پنجرو کې زندانیان یوو؟

فلهذا، موږ پرېکړه وکړه چې دا ټول ظالمان دې خپل فکر او تګلاره له ځانه سره وساتي، موږ خپل فکر او خپله تګلاره لرو، موږ د الهي، ملي او وجداني مسؤولیت له مخې خپل خدای او خپلو اولادونو ته ځواب ورکوونکي یوو.

نو، موږ د الهي احکامو او بشري غوښتنو له مخې په یوه چاردېوالۍ کې جوړې شوي نورې چاردېوالۍ ړنګوو تر څو زموږ خندا او ژړا مشترکه وي او له همدې ملت سازۍ یې پیلوو، موږ په خپل فکر بنسټ کښېښود او همدا فکر به پر دې بنسټ مینار جوړوي.

موږ له دې بدرنګې جګړې، غربت، فساد، بې عدالتۍ، بې سوادۍ او بې اتفاقۍ څخه د خپلو اوسنیو او راتلونکو نسلونه د خلاصون په موخه راوتي یوو. موږ خپله سپېڅلې خاوره په یوه مترقي، ارام او زرغون وطن د بدلولو په هدف سره یو ځای شوي یوو.

موږ د خپل هېواد د هر بهرني دوښمن، ډلو او په دولت کې دننه د افغان دوښمن په وړاندې راوتي یوو، موږ د خپلو وګړو د هر هغه حقه حقوق چې خدای تعالی او د بشر په لاس جوړ شوي قوانینو ورکړي نه یوازې دفاع کوو بلکې د ترلاسه کولو په موخه مو لستوڼي بډ وهلي.

موږ د ټولو جنګي جرمونو څخه نیولې بیا د دې جغرافیې پر هر اوسېدونکي د غیرقانوني جبر، اختطاف، فزیکي او ذهني شکنجې، غیر قانوني زنداني کول، فساد، غربت، بې عدالتی، بې سوادی او بې اتفاقی څخه د خلاصون هوډ کړی.

موږ د افغانستان د اساسي قانون او همدارنګه د ټولو عرفي قوانینو په رڼا کې خپلو خلکو ته د دوی بنیادي حقونه لکه د بیان ازادي، انساني کرامت ته درناوی، د ملکیتونو مصؤونیت او کار اهل کار ته د سپارلو په موخه مبارزه کوو.

سربېره پر دې، ملي ګټې مانا عامه ګټې هغه منافع دي چې حکومت، پارلمان او ادارې یې د عقیدې په توګه د هر وګړي د سولې، نظم، ثبات، امنیت، ملکیت، بشري حقوق او ټولنیزو ګټو د حفظ په موخه د جمهوریت له لارې په قوانینو، پالیسیو، پرېکړو او عمل کې ځای پر ځای کوي، چې دا هر څه یوازې د اساسي قانون او ټاکنو له لارې شوني دي. د ټاکنو تر ټولو لومړی او مهمه برخه خلکو ته دا پوهاوی ورکول دي تر څو دوی خپل برخلیک په ښه توګه وټاکي.

فلهذا، د ملي منافعو تضمین په ټوله کې او ولسواکي په ځانګړې ډول د سیاسي غورځنګونو، ګوندونو او نورو سیاسي حرکتونو پرته ناشونې ده، پر ملي منافعو تمرکز او د دې اهمیت تر عامو خلکو رسولو یوازینی لار سیاسي فعالیتونه دي، سیاسي ګوندونه، غورځنګونه او حکومتولی له لسیزو یو د بل لپاره لازم و ملزوم دي.

په عام ډول داسې ویلی شو چې دولت او سیاسي غورځنګونه یو نه یو ډول پر یو او بل تکیه کوي، او همدا سیاسي غورځنګونه دي چې په ولس کې د ملي ارزښتونو پیغام تر ټول په ښه توګه خپروي، په ورته وخت کې هر قشر خپل هدفونه او فرصتونه د همدې لارې ترلاسه کوي، او د دوی اهدافو ته ګوابښونه هم د سیاسي غورځنګونو له لارې تر دوی رسېږي او په مخ نیوي کې یې هم همدا سیاسي غورځنګونه د خپلو خلکو او نظامونو تر څنګ درېږي.

سربېره پر دې، د هېواد په رغونه او پرمختګ کې تر ټولو لویه ونډه مطلع وګړي لرلای شي، د شرایطو حساسیت همدا باخبر ولس ټاکي چې هېواد څه ډول اقتصادي او سیاسي پرمختګ وکړي، او په دې برخه کې تر ټولو لوی رول سیاسي غورځنګونه او ګوندونه لوبولی شي چې دا کار په خپل ذات کې د ډیموکراسی تر ټولو لوی اصل دی.

هغه عمومي پُل چې اساسي قانون او ولس سره نښلولای شي سياسي غورځنگونه دي چې د فرد فرد گټې او مکلفيتونه تضمين کوي. يوازې سياسي غورځنگونه کولای شي چې د مساويانه گډون له لارې مساوي حقوق تضمين کړي، او د ياد تضمين لپاره تر ټولو غوره، اسانه او چټکه لار انتخابات دي، په دې فعاليت کې يو سياسي غورځنگ او يا گوند خپل نهايي وس کوي تر څو خپلې برنامې او ژمنې تر ولس ورسوي او ولس هم له همدې لارې خپل برخليک ټاکي.

په تېرو نولسو کلونو کې ټولې ټاکنې په ځانگړي ډول ولسمشريزي او د ولسي جرگې ټاکنې له ستونزو او گډوډيو سره مخ شوي، او نتايج يې هم تل متنازع پاتې شوي، تر ټاکنو وړاندې او وروسته پړاوونه د واقعي سياسي غورځنگونو او گوندونو د نه شتون له کبله جنجالي شوي چې بې له شکه دې جنجالونو نه يوازې په افغانستان کې د ټاکنو داخلي بلکې د ټاکنو سيمه ييز او نړيوال مشروعيت هم تر پوښتنې لاندې راوستی او په پای کې يې افغان نظام او ملت متضرر کړی.

**درنښت**

**باور غورځنگ**

# عمومي حکمونه

## لومړی فصل

## موخې او اصطلاحګانې

~~مبنی~~

**لومړۍ ماده:**

دغه اساسنامه د افغانستان د اساسي قانون د پنځه دېرشمې مادې او د سیاسي ګوندونو د قانون د دویمې، دریمې، څلورمې، پنځمې، اوومې، اتمې ، درویشتمې او څلورویشتمې مادې حکمونو ته په پام سره وضع شوې ده.

~~موخې~~

**دویمه ماده:**

د دې اساسنامه موخې عبارت دي له:

(۱) باور غورځنګ به خپلې سیاسي موخې هغه که مادي وي او که معنوي، د سیاسي مبارزې له لارې ترلاسه کوي.

(۲) د باور غورځنګ ټول اهداف د افغانستان د اساسي قانون او د ټولو هغو نړۍ والو کنوېنسیونونو په رڼا کې نغښتې چې افغانستان یې غړیتوب لري. باور غورځنګ د ټولو افغانانو د بنسټیزو حقونو لکه ژوند، خپلواکي، د فکر، بیان او کاروبار ازادي او نور ټول هغه حقونه چې الهي او ځمکني قوانینو انسانانو ته ورکړي د خوندیتوب لپاره مبارزه کوي.

(۳) باور غورځنګ د یوې ټولنیزې طبقې او د ګډو ګټو لرونکو ټولنیزو قشرونو خورا پوه او د لوړ ټولنیز او سیاسي شعور لرونکي فعالو کسانو څخه جوړ شوی چې په خاص ډول د دوی، د غورځنګ د نورو غړو او په عام ډول د ټولو افغانانو ګټو استازیتوب او رهبري کوي.

(۴) باور غورځنګ د ملت د سیاسي ارادې په جوړولو کې فعالیت کوي او ځان د یوه ولسواک دولت د جوړولو تر ټولو غوره ستن بولي.

(۵) باور غورځنګ د ولسونو سیاسي شعور راویښوي او لوړوي. همدا رنګه د مدني ټولنو د ودې له پاره زمینه سازي کوي، او ولسونه د ولسواکۍ په کلتور او ټولنیزې ډلې یو له بل سره د زغم په روحیه روزي.

(٦) باور غورځنګ د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د هر ډول غیر قانوني کړنو لکه ترهګري، غصب، فساد، مافیایي سیاست، قومي او ژبه نیز تعصبات، زورواکي، بې عدالتي او نورو ناسمو کړنو په وړاندې مبارزه کوي، هغه که دولتي، نادولتي افراد یا ادارې کوي.

(۷): باور غورځنګ په دې باور دی چې ګران افغانستان له هر ډوله بدمرغیو څخه د خلاصون او د یوه پرمختللي او هوسا افغانستان لپاره تر ټولو اړین او لومړی ګام د ملت سازۍ دی، د یاد هدف د ترلاسه کولو تر ټولو غوره لار دا باور لرل دي چې په دې هېواد کې ټول اوسېدونکي یو له بل سره ټولنیز تړون لري، او د افغانستان دولت د همدې تړون د پلي کولو مسؤولیت ولري. بارو غورځنګ په دې باور دی چې د واک واګې یوازې او یوازې د خلکو سره وي، او د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا واک هم یوازې او یوازې افغان ولس لري.

(۸) باور غورځنګ په دې باور دی چې په تېرو نولسو کلونو کې افغان دولت و نه توانېدی چې یوه قوي ډیپلوماتیکه دستګاه ولري تر څو له همدې ادرسه له ټولو بهرني هېوادونو په ځانګړي ډول د خپلو غربي شرکاوو سره د قوي ډیپلوماسۍ له لارې د افغانستان د جغرافیې او ملت ګټې خوندي کړي، او نړۍ والو سره د متقابل نړیوالو اړیکو په رڼا کې برخورد وکړي. په همدې اساس باور غورځنګ د افغانستان د ملي ګټو د خوندیتوب په موخه د ټولو هغو نړۍ والو (هېوادونو او ادارو) هغو پرېکړو په وړاندې مبارزه کوي چې د افغانستان ملي ګټې ګواښي، او غورځنګ یې په بدل کې د افغانستان پر ملي منافعو ولاړ وړاندیزونه او طرحې وړاندې کوي او د عملي کولو لپاره یې د ډیپلوماتیکو عرفونو او ولسي حرکتونو له لارې فشارونه واردوي.

(۹) باور غورځنګ د افغانستان د اساسي قانون، عرفي قوانینو او ټولو نړۍ والو کنوېنسیونونو په ځانګړي ډول د بشر حقونه، یو اېن ډي اېچ ار، ای سي سي پي ار، یو اېن اېچ سي ار، د نړۍ والې محکمې کنوېنسیون او نور کنوېنسیونونو چې افغانستان یې غړیتوب لري، په رڼا کې پر طالبانو، د دوی پر ملاتړو هېوادونو، پر ګاونډې هېوادونو او افغان دولت د ډیپلوماسۍ او ولسي مبارزو له لارې فشار واردوي تر څو پر افغان ملت د تپل شوي جګړې په ګډون فساد، مافیایي سیاست، زورواکي، غربت او بې عدالتۍ ته د پای ټکی کېښېښودل شي.

(۱۰) بارو غورځنګ د ډیورنډ کرښه د یوې کرغېړنې او د انګرېزانو لخوا د افغان ملت د وېش د کرښې په توګه پېژني، او تر کرښې ها خوا پښتانه، افغانان او خاوره یې د افغانستان ملکیت بولي. د دې قضیې د حل دوسیه به نړۍ وال ستېج په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونه پلېټ فارم ته وړي.

(۱۱) باور غورځنګ د افغانانو د وژلو لپاره په ګاونډي هېوادونو کې د جهاد په نوم د روزن ځایونو او تمویل قضیه د نړۍ معتبرو درېځونه لکه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، نړۍ واله محکمه او بروکسېل ته وړي، او پر نړۍ والو درېځونه د افغانانو د څلورو لسیزو د قتل عام حساب او عدالت غوښتنه کوي.

(۱۲) باور غورځنګ د بون د لومړي او دویم کانفرنسونو د پرېکړو تر څنګ د محتده ایالاتونه سره د امنیتي تړون او د ناټو هېوادونو سره د دوه اړخیزو تړونونو په رڼا کې د افغانستان د جغرافیې او افغان ملت د ژوند د خوندیتوب لپاره سیاسي، حقوقي او ټولنیزه مبارزه کوي.

## د اساسنامې د حکمونو تطبیق

**دریمه ماده:**

(۱) د دې اساسنامې حکمونه د باور غورځنګ پر هر غړي بې توپیره تطبیقېږي.

(۲) دا غورځنګ (د باور غورځنګ) په نوم جوړ شوی او په دې اساسنامه کې به د (غورځنګ) په نوم یادیږي.

(۳) د غورځنګ مرکزي دفتر په کابل کې دی، په ټول هیواد او ځینو بهرنیو هېوادونو کې څانګې او غړي لري او ټولو اتباعو ته بې له کوم توپیره خدمت کوي.

(۴) غورځنګ ځانګړی نښان او بیرغ لري چې په لاندې ډول تشریح کیږي.

۱ نښان

د غورځنګ نښان، چې د لاس په ګوتو واضح لیکل شوی "باور" ښکاري او د شهادت د ګوتې په پورته کولو د یوه خدای، یوه ملت او یوه بیرغ پیغام ورکوي، ،سربېره پر دې د لاس غټه ګوته چې د ب توری جوړوي، د لاس د ورغوي تر مړونده پورې د کوترې عکس انځوروي چې د سولې پیغام ورکوي. د دې تر څنګ د غورځنګ نښان له دریو رنګونو سور، سپین او شین څخه جوړ دی. (سور) د مبارزې او د وینې رنګ، مانا د نړۍ د ټولو انسانانو د وینې رنګ یو ډول دی او د کوم ژبه نیز، قامي، مذهبي او سیمه اییز توپیر پرته برابر حقوق لري.

(سپین) د سپېڅلتیا او پاکوالي او د لمر مانا چې تیارې له منځه وړي او توښ یې منجمد انسان او ټولنې ته د تحرک د ورکړې مانا لري.

(شین) د سولې، یووالي، عدالت، ذهني ارامښت او د نړۍ والو سره د وصل (پاسپورټ رنګ) مانا ورکوي.

**۲ بیرغ:**



د غورځنګ بیرغ له دریو رنګونو سور، سپین او شین څخه جوړ دی. (سور) د مبارزې، د ویني رنګ، مانا د نړۍ د ټولو انسانانو د وینې رنګ یو ډول دی او  د کوم ژبه نیز، قامي، مذهبي او سیمه ایيز توپیر پرته برابر حقوق لري.

(سپین) د سپېڅلتیا او پاکوالي او د لمر مانا چې تیارې له منځه وړي او توبش یې منجمد انسان او ټولنې ته د تحرک د ورکړې مانا لري.

(شین) د سولې، یووالي، عدالت، ذهني ارامښت او د نړۍ والو سره د وصل (پاسپورټ رنګ) مانا ورکوي.

(۵) دا اساسنامه په اووه فصلونو، یو پنځوس مادو، ۲۱۹ فقرو، ۱۳٦ جُزء او ۳٦ بندونو کې ترتیب او د غورځنګ د مرکزي کمېټې له خوا تصویب شوې.

**<u>اصطلاحګانې</u>**

**ځلورمه ماده:**

د دې اساسنامې لاندې اصطلاحات لاندې مفاهیم افاده کوي:

(۱) باور: اعتماد، اعتقاد، منل، قبولیت، صداقت.

(۲) غورځنګ: خوځښت، پراخ سیاسي حرکت

## دوه یم فصل

## تشکیلات

**بنسټګر:**

**پينځمه ماده:**

هغه ډله ده چې د غورځنګ بنسټ اېښودونکي دي او پرته له رايې د رهبرۍ په شورا کې غړيتوب لرلي چې شمېر يې پنځه دېرش کسان دي.

**کلي/ګذر شورا:**

**شپږمه ماده:**

د کلي او ګذرونو په کچه د غورځنګ د فکر د پراختيا لپاره کار کوي، دا شورا په کليو کې د غورځنګ د ټولو غړيو څخه جوړه ده.

**ولسوالۍ/ناحيې شورا:**

**اوومه ماده:**

د ولسوالۍ او د ناحيې شورا د کم تر کمه لسو کليو يا ګذرونو د شوراګانو له استازيو څخه جوړه ده او د ولسوالۍ او ناحيې په کچه د پرېکړو مرجع ده.

**ولايتي شورا:**

**اتمه ماده:**

دا شورا د ولسواليو او د ولايتونو د ښاري واحدونو د ټاکل شويو استازيو څخه جوړه ده، د ولايت په کچه د تصميم نيونې لوړه مرجع ده.

**<u>د رهبرۍ شورا:</u>**

**نهم ماده:**

(۱)د غورځنګ د رهبرۍ شورا چې د غورځنګ بسنټ اېښېدونکي يې هم ګڼل کیږي. لري د پرېکړو تر ټولو لوړه مرجع ده، د رهبرۍ شورا د غړيو

شمېر حداقل ۳۵ او حد اکثر ۱۰۱ تنه دي، د غړیتوب شرايط، مفصل مېکانېزم، مسؤوليتونه او صلاحيتونه يې په اووم فصل کې واضح شوي.

(۲) د رهبرۍ د شورا د غړيتوب له پاره لږ تر لږه عمر پينځه ويشت کاله دی.

**<u>مرکزي کمېټه:</u>**

**لسمه ماده:**

تر رهبرۍ شورا وروسته د پرېکړو تر ټولو لوړ جوړښت دی او په ځينې مواردو کې د پرېکړو تر ټولو لوړه مرجع ده چې مفصل ميکانېزم، دندې او صلاحيتونه يې په اووم فصل کې ځای پر ځای شوي.

**<u>د غورځنګ د مشر ټاکنه:</u>**

**يوولسه ماده :**

(۱) د غورځنګ مشر د رهبرۍ شورا د غړيو له منځه د رايو د قاطع اکثريت د ترلاسه کولو په ترڅ کې ټاکل کېږي، چې د غورځنګ ټول غړي يې د اساسنامې له احکامو سره سم پر اطاعت مکلف ګڼل کېږي.

(۲) د غورځنګ د مشرتابه له پاره د نوماندېدو شرايط او معيارونه په اووم فصل کې واضح شوي.

(۳) د غورځنګ مشر د ټاکل کېدلو وروسته سم دستي د لوړې مراسم پر ځای کوي.

**<u>د غورځنګ د مرستيال ټاکل :</u>**

**دوولسمه ماده:**

د غورځنګ مرستيال د غورځنګ د رهبرۍ شورا له منځه د رايو په قاطع اکثريت ټاکل کېږي.

**<u>دارالانشاء:</u>**

**دیارلسمه ماده:**

دارالانشاء یا اجرایه شورا د مرکزي کمېټې له خوا د غورځنګ د اداري او تخنیکي چارو په موخه ګمارل کېږي چې د غورځنګ د مشر د مستقیم هدایاتو په رڼا کې چارې پر مخ وړي. د دارالانشاء مسؤولیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې واضح شوي.

## درېیم فصل

## مالي / بودجوي چارې

**<u>مالي سرچینې:</u>**

**څوارلسمه ماده:**

د غورځنګ مالي سرچینې، فعالیت او حساب ورکول د افغانستان د ګوندونو د قانون د څوارلسمې، پنځلسمې او شپاړلسمې مادو په رڼا کې وضع شوي.

## څلورم فصل

## عمومي مسؤولیتونه او صلاحیتونه

**<u>د غورځنګ مشر:</u>**

**پنځمه لسمه ماده:**

(۱) د غورځنګ مشر د غورځنګ د ټولو جوړښتونو مشر ګڼل کېږي.

(۲) د غورځنګ مشر په ټولو رسمي بلنو، غونډو او مراسمو کې د غورځنګ رسمي استازیتوب کوي.

(۳) د غورځنګ مشر د هغو طرحو د عملي کولو لپاره لار هواروي چې د رهبرۍ شورا یا مرکزي کمېټې له لوري تصویب شوي وي.

(۴) د غورځنګ مشر مکلف دی چې د غورځنګ له نوم او معنوي او مادي ارزښتونو څخه دفاع وکړي، خو نه شي کولی چې یاد ارزښتونه د ځان په ګټه (شخصي منفعت) وکاروي.

(۵) د غورځنګ مشر په خپلو اجراأتو کې بنسټګرو او د رهبرۍ شورا ته مسؤل دی.

(٦) د غورځنګ مشر د پرېکړو په موخه هر کله د مشرتابه شورا غونډې را بللی شي.

(۷) د غورځنګ مشر په بېړنیو حالاتو کې د تصمیم نیولو په موخه یوازې مرکزي کمېټې یا بنسټګرو ته مراجعه کوي.

(۸) د غورځنګ مشر د غورځنګ د تشکیلاتي واحدونو او کمېټو د مسؤلینو او رییسانو مالي صلاحیتونه تعینوي.

(۹) د اجرائیه شورا ( دارالانشاء) ټولې چارې د غورځنګ د مشر له لوري څارل کېږي.

**<u>د غورځنګ مرستیال:</u>**

**شپاړلسمه ماده:**

(۱) د غورځنګ د مشر د نشتوالي په صورت کې به د غورځنګ سرپرست وي.

(۲) د غورځنګ مرستیال د خپلو اجراأتو په هکله د غورځنګ مشر ته مسؤل دی.

(۳) د غورځنګ مرستیال تر ټاکل کېدو وروسته د لوړې مراسم ترسره کوي.

(۴) د غورځنګ مرستیال ته د غورځنګ مشر مسؤولیتونه سپاري.

**<u>مرکزي کمېټه:</u>**

**اوولسمه ماده:**

(۱) مرکزي کمېټه د غورځنګ مشر ته د غورځنګ د تګلارې د پلي کولو اړوند برنامې جوړوي.

(۲) د غورځنګ بنسټګر پرته له رایو د مرکزي کمېټې غړیتوب لري.

(۳) د اساسنامې له مخې د غورځنګ د رهبرۍ د شورا تر جوړېدو همدا اساسنامه تصویبوي.

(۴)د دارالانشا د غړیو د تقرر صلاحیت لري.

(۵) پر مالي چارو څار او د اړتیا په وخت کې ورته پروګرامونو جوړوي.

(٦) د مرکزي کمېټې مفصل معلومات، مسؤولیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې واضح شوي.

**<u>دارالانشاء:</u>**

**اتلسمه ماده:**

(۱) دارالانشاء له مختلفو تخنیکي او مسلکي سکتورونو جوړ شوی جوړښت دی.

(۲) تخنیکي او مسلکي سکتورونو د غورځنګ د پرمختګ له پاره په خپلو اړونده کاري ساحو کې برنامې جوړوي او د تصویب له پاره یې د رهبری شورا ته استوي.

(۳) تخنیکي او مسلکي کمېټې د هېواد د ښېګڼې او پرمختګ په موخه څېړنې کوي او د

همدې څېړنو په رڼا کې پالیسی او ستراتېژی جوړوي او د تصویب له پاره یې د رهبری شورا ته وړاندې کوي.

(۴) د دارالانشاء مفصل مسؤلیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې تصریح شوي.

**<u>د رهبري شورا:</u>**

**نولسمه ماده:**

(۱) د رهبری شورا د ازادو، شفافو او سري رایو له لارې د غورځنګ مشر او مرستیال ټاکي.

(۲) د غورځنګ د لویو سیاسي پرېکړو تصویب کوي.

(۳) د افغانستان د نافذه قوانینو پر شرایطو برابر د غورځنګ غړي ټولو ټاکنو (ولسمشریزو، ولسي جرګه، ولایتي شورا، مشرانو جرګه، مشورتي لویه جرګه، ولسوالی شورا او ښاروالی) ته نوماندان ټاکي.

(۴) د رهبری شورا مفصل مسؤولیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې واضح شوي.

**<u>ولایتي شورا:</u>**

**شلمه ماده:**

(۱) ولایتي شورا دنده لري چې د ولسوالیو او ناحیو له شورا ګانو څخه په مستقیم ډول او د کلیو او ګذرونو له شورا ګانو څخه په غیر مستقیمه توګه څارنه وکړي.

(۲) ولایتي شورا کال کې څلور (درې میاشتېنی) عمومي غونډې را بولي.

(۳) د ولایت د مالي چارو سمبالتیا او عمومي مالي کمېټې، مرکزي کمېټې او رهبری شورا ته حساب ورکونه.

(۴) د ولایتي شورا مفصل مسؤلیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې توضیح شوي.

**د ولسوالۍ/ناحیې شورا:**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) د ولسوالۍ/ناحیې په کچه به د غورځنګ فکر د خپرولو لپاره کار کوي.

(۲) ولسوالۍ/ناحیې شورا د خپلو اړوند کلیو د شوراګانو د چارو د ارزونې او څار چاره هم پر غاړه لري.

(۳) د ولسوالۍ/ناحیې شورا په کال کې شپږ عمومي غونډې رابولي.

(۴) د ولسوالۍ شورا ولایتي شورا ته حساب ورکوونکې ده.

(۵) د ولسوالۍ/ ناحیې شورا مفصل مسؤلیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې واضح شوي.

**د کلي /ګذر شورا:**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د کلي/ګذر شورا د ولسوالۍ/ناحیې شورا ته حساب ورکوونکې ده.

(۲) د کلي/ګذر د شورا مفصل مسؤلیتونه او صلاحیتونه په اووم فصل کې واضح شوي.

## پنځم فصل

## د غورځنګ د غړیتوب شرایط

**د غړیتوب شرایط:**

**درویشتمه ماده:**

هر افغان چې د افغانستان د سیاسي ګوندونو د قانون د دریالسمې مادې حکمونه پوره کوي، کولی شي د غورځنګ غړیتوب ترلاسه کړي.

## شپږم فصل

## د عزل حالتونه

**عزل:**

**څلورويشتمه ماده:**

(۱) هغه غړی چې وفات شي.

(۲) هغه غړی چې دبل سیاسی حرکت یا ګوند غړیتوب تر لاسه کړي.

(۳) هغه غړی چې په خپله خوښه مستعفي شي.

(۴) هغه غړی چې د دربګونو محاکمو له خواه په جنایت او یا جنحه محکوم شي.

(۵) د کلي له شورا نیولې بیا د رهبرۍ تر شورا پورې دا صلاحیت لري چې د غورځنګ غړی د ناسمو کړنو (د دې اساسنامې، مرامنامې او نور طرزالعملونه څخه په سرغړونې) د اړونده شورا څخه عزل کړي، جزییات یې په اووم فصل کې واضح شوي.

(٦) که چېرې د غورځنګ مشر د یادې مادې د لومړۍ، دوه یمې، دریمې، څلورمې او پنځمې فقرې په اساس عزل کېږي نو د غورځنګ مرستیال د غورځنګ چارې پر مخ وړي خو د غورځنګ د رهبرۍ شورا مسؤولیت لري چې د دریو میاشتو دننه د اساسنامې له حکم سره سم د غورځنګ نوی مشر وټاکي.

**پنځه ویشتمه ماده:**

هغه غړی چې د درویشتمې مادې د حکمونو له مخې غړیتوب له لاسه ورکړي، نه شي کولای د حق الشمول، حق العضویت او مرستو رقم بیرته واخلي.

## اووم فصل

## تفصيلات

**د کلي او گذر شورا:**

**شپږ ويشتمه ماده:**

**د کلي او گذر شورا تشکيل، مسؤوليتونه او صلاحيتونه:**

(۱) د کلي او گذر شورا د کلي او گذر په کچه فعاليت، همغږي او د نظم مسؤوليت او صلاحيت لري. کلي او گذر شورا د غورځنگ د اساسامې په رڼا کې د جمهوري سېستم له مخې د رايو په اساس ټاکل کېږي.

(۲) د کلي او گذر شورا يو مشر او منشي لري چې د ازادو او شفافو رايو په اساس د يو کال له پاره ټاکل کېږي.

(۳) د هر کلي او گذر شورا په همغه کلي او گذر کې د غورځنگ د غړيو شمېر ته په کتو تشکيلږي.

(۴) د شورا مشر د کلي او گذر په کچه په کال کې دوولس غونډې جوړوي. د اړتيا سره سم د شورا مشر کولی شي چې هر وخت غونډه راوغواړي.

(۵) د شورا مشر د غونډې له پاره د اجنډا د مسودې جوړول، د غونډې مشرتوب کول او د کلي او گذر په کچه د همغږۍ مسؤوليت او صلاحيت لري.

(٦) د کلي او گذر شورا تر ټاکنو، اوس مهال د کلي او گذر شورا تشکيل شورايي بڼه لري چې حداقل درې باوريان يې مشرتوب کوي، او د رايو په اکثريت د کلي او گذر په کچه وړانديز ولسوالۍ/ناحيې شورا ته کوي.

(۷) کلي او گذر شورا مکلفيت لري چې د غورځنگ د مشرتابه (د ولسوالۍ/ناحيې شورا، ولايتي شورا مشرتابه، مرکزي کمېټه، د رهبرۍ د شورا او د غورځنگ د مشر) هدايات او اوامر پر ټاکل شوي وخت پلي کړي. د کلي او گذر شورا نه شي کولی چې د غورځنگ د مشرتابه له پرېکړې وروسته د اړوندې پرېکړې په هکله په کلي او گذر شورا کې رای گېري وکړي.

(۸) د کلي او گذر شورا مشر او منشي نه شي کولی چې د ياد منصب تر څنگ د ولسوالۍ/ناحيې شورا غړيتوب ته هم ځان نوماند کړي، په دې صورت کې، نوموړی/نوموړې بايد له خپل موقف څخه مستعفي شي.

(۹) د کلي او گذر شورا هغه غړی چې د ولسوالۍ/ناحیې شورا غړیتوب تر لاسه کوي د کلي او گذر شورا غړیتوب یې پر ځای پاته کېږي. اما، د کلي او گذر په کچه د فعالیت پر مهال د کلي او گذر شورا د مشرتابه تر اوامر او هدایاتو لاندې فعالیت کوي.

(۱۰) د کلي او گذر شورا مکلفیت لري چې خپل میاشتینی راپور ولسوالۍ/ناحیې شورا ته وړاندې کړي.

**اووه ویشتمه ماده:**

**د کلي او گذر شورا غونډې او پرېکړې:**

(۱) کلي او گذر شورا په کال کې دوولس غونډې (میاشتنۍ) جوړوي. د اړتیا پر مهال د کلي او گذر مشر کولی شي هر مهال غونډه راوغواړي.

(۲) د کلي او گذر شورا د غونډې د اجنډا مسوده د شورا مشر جوړوي. خو، د شورا د دوو ثلثو په رایو هم د اجنډا مسوده جوړېږي او د شورا مشر یې د رد یا تغیر صلاحیت نه لري. په نورمال حالت کې ( میاشتینۍ غونډې) د غونډې اجنډا لږ تر لږ یوه اوونۍ وړاندې د غونډې د گډونوال سره شریکېږي.

(۳) پر اجنډا تر بحث وروسته پرېکړې د رایو په اکثریت کېږي، او بیا ولسوالۍ/ناحیې شورا ته د تایید له پاره استول کېږي.

(۴) د کلي او گذر شورا د غونډو او لا غوره پرېکړو په موخه یاده شورا کولی شي د مشورې له پاره د ولسوالي/ناحیې شورا لارښوونې د ځان سره ولري.

<u>**ولسوالۍ او ناحیې شورا:**</u>

**اته ویشتمه ماده:**

**د ولسوالۍ/ناحیې شورا تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) د ولسوالۍ/ناحیې شورا د ولسوالۍ او ناحیې په کچه فعالیت، همغږي او د نظم مسؤولیت او صلاحیت لري. د ولسوالۍ/ناحیې شورا د غورځنگ د اساسنامې په رڼا کې د جمهوري سېستم له مخې د رایو په اساس ټاکل کېږي.

(۲ د ولسوالۍ/ناحیې شورا یو مشر او منشي لري چې د ازادو او شفافو رایو په اساس د یونیم کال له پاره ټاکل کېږي.

(۳) هره ولسوالۍ/ناحیې شورا په همغه ولسوالۍ/ناحیې کې د غړیو د غورځنګ شمېر ته په کتو تشکېلږي.

(۴) د شورا مشر د ولسوالۍ/ناحیې په کچه په کال کې شپږ غونډې جوړوي. د اړتیا سره سم د شورا مشر کولی شي چې هر وخت غونډه راوغواړي.

(۵) د شورا مشر د غونډې له پاره د اجنډا د مسودې جوړول، د غونډې مشرتوب کول او د ولسوالۍ/ناحیې په کچه د همغږۍ مسؤولیت او صلاحیت لري.

(٦) د ولسوالۍ/ناحیې شورا تر ټاکنو، اوس مهال د ولسوالۍ/ناحیې شورا تشکیل شورایي بڼه لري چې حداقل درې باوریان یې مشرتوب کوي، او د رایو په اکثریت د ولسوالۍ/ناحیې په کچه وړاندیز ولایتي شورا ته وړاندې کوي.

(۷) د ولسوالۍ/ناحیې شورا مکلفیت لري چې د غورځنګ د مشرتابه (ولایتي شورا، مرکزي کمېټه، رهبرۍ د شورا او د غورځنګ د مشر) هدایات او اوامر پر ټاکل شوي وخت پلي کړي. د ولسوالۍ/ناحیې شورا نه شي کولی چې د غورځنګ د مشرتابه له پرېکړې وروسته د اړوندې پرېکړې په هکله په ولسوالۍ/ناحیې شورا کې رای ګېري وکړي.

(۸) د ولسوالۍ/ناحیې شورا مشر او منشي نه شي کولی چې د یاد منصب تر څنګ د ولایتي شورا غړیتوب ته هم ځان نوماند کړي، په دې صورت کې، نوموړی/نوموړې باید له خپل موقف څخه مستعفي شي. اما د ولسوالۍ/ناحیې شورا نور غړي کولی شي ځان د ولایتي شورا غړیتوب ته نوماند کړي او ولسوالۍ/ناحیې شورا د اکثریتو رایو پر بنسټ ولایتي شورا ته لار ومومي.

(۹) د ولسوالۍ/ناحیې شورا هغه غړی چې د ولایتي شور غړیتوب تر لاسه کوي د ولسوالۍ/ناحیې شورا غړیتوب یې پر ځای پاته کېږي. خو، د ولسوالۍ/ناحیې په کچه د فعالیت پر مهال د ولسوالۍ/ناحیې د شورا مشرتابه تر اوامر او هدایاتو لاندې فعالیت کوي.

(۱۰) د ولسوالۍ/ناحیې شورا مکلفیت لري چې خپل دوه میاشتینی راپور ولایتي شورا ته وړاندې کړي.

(۱۱) ولسوالۍ/ناحیې شورا مسؤولیت لري چې د کلیو او ګذرونو د شوراګانو میاشتیني راپورونه راغونډ او ترتیب کړي.

**نهه ویشتمه ماده:**

**د ولسوالۍ/ناحیې شورا غونډې او پرېکړې:**

(۱) ولسوالۍ/ناحیې شورا په کال کې شپږ غونډې (هرې دوې میاشتې) جوړوي، چې د ولسوالۍ/ناحیې شورا د غړیو تر څنګ د کلیو او ګذرونو د شوراګانو مشرتابه هم پکښې ګډون کوي. د اړتیا پر مهال د ولسوالۍ/ناحیې مشر کولی شي هر مهال غونډه راوغواړي.

(۲) د ولسوالۍ/ناحیې شورا د غونډې د اجنډا مسوده د شورا مشر جوړوي. خو، د شورا د دوو ثلثو په رایو هم د اجنډا مسوده جوړېږي او د شورا مشر یې د رد یا تغیر صلاحیت نه لري. په عادي حالت کې (دوې میاشتینۍ غونډې) د غونډې اجنډا لږ تر لږ یوه اوونۍ وړاندې د غونډې د ګډونوالو سره شریکېږي.

(۳) پر اجنډا تر بحث وروسته پرېکړې د رایو په اکثریت کېږي، او بیا ولایتي شورا ته د تایید له پاره استول کېږي.

(۴) د ولسوالۍ/ناحیې شورا د غونډو او لا غوره پرېکړو په موخه یاده شورا کولی شي د مشورو له پاره د ولایتي شورا لارښوونې د ځان سره ولري.

**<u>ولایتي شورا:</u>**

**دېرشمه ماده:**

**د ولایتي شورا تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) ولایتي شورا د ولایت په کچه چې په هغه کې کلي، ګذرونه، ناحیې او ولسوالۍ شاملې دي د فعالیت، همغږۍ او نظم مسؤولیت او صلاحیت لري. ولایتي شورا د غورځنګ د اساسنامې په رڼا کې د جمهوري سېستم له مخې د رایو په اساس ټاکل کېږي.

(۲) ولایتي شورا یو مشر، مرستیال او منشي لري چې د ازادو او شفافو رایو په اساس د دوه نیمو کلونو له پاره ټاکل کېږي.

(۳) هره ولایتي شورا په همغه ولایت کې د غورځنګ د غړیو شمېر ته په کتو تشکیلېږي.

(۴) د شورا مشر د ولایت په کچه په کال کې څلور غونډې جوړوي. د اړتیا سره سم د شورا مشر کولی شي چې هر وخت غونډه راوغواړي.

(۵) د شورا مشر د غونډې له پاره د اجنډا د مسودې جوړول، د غونډې مشرتوب کول او د ولایت په کچه د همغږۍ مسؤولیت او صلاحیت لري.

(٦) د ولایتي شورا تر ټاکنو، اوس مهال د ولایتي شورا تشکیل شورایي بڼه لري چې حداقل پنځه باوریان یې مشرتوب کوي، او د رایو په اکثریت د ولایت په کچه وړاندیز د رهبرۍ شورا او یا هم په بېړني حالت کې مرکزي کمېټې ته وړاندې کوي.

(۷) ولایتي شورا مکلفیت لري چې د غورځنګ د مشرتابه (مرکزي کمېټه، د رهبرۍ شورا او د غورځنګ مشر) هدایات او اوامر پر ټاکل شوي وخت پلي کړي. ولایتي شورا نه شي کولی چې د غورځنګ د مشرتابه له پرېکړې وروسته د اړوندې پرېکړې په هکله په ولایتي شورا کې رای ګېري وکړي.

(۸) د ولایتي شورا مشر، مرستیال او منشي نه شي کولی چې د یاد منصب تر څنګ د رهبرۍ شورا غړیتوب ته هم ځان نوماند کړي، په دې صورت کې، نوموړی/نوموړي باید له خپل موقف څخه مستعفي شي. اما د ولایتي شورا د رهبرۍ نور غړي کولی شي ځان د رهبرۍ شورا غړیتوب ته نوماند کړي او ولایتي شورا د اکثریتو رایو پر بنسټ د رهبرۍ شورا ته لار ومومي.

(۹) د ولایتي شورا هغه غړی چې د رهبرۍ شورا غړیتوب تر لاسه کوي د ولایتي شورا غړیتوب یې پر ځای پاته کېږي. خو، په ولایتي کچه د فعالیت پر مهال د ولایتي شورا مشرتابه تر اوامر او هدایاتو لاندې فعالیت کوي.

(۱۰) ولایتي شورا مکلفیت لري چې خپل درې میاشتینی راپور مرکزي کمېټې او شپږ میاشتېنی راپور رهبرۍ شورا ته وړاندې کړي. خو، د اړتیا پر مهال مرکزي کمېټه او د رهبرۍ شورا صلاحیت لري چې ولایتي شورا څخه هر وخت راپور وغواړي.

(۱۱) ولایتي شورا مسؤولیت لري چې د ولسوالیو او ناحیو د شوراګانو دوه میاشتیني راپورونه راغونډ او ترتیب کړي.

**یو دېرشمه ماده:**

## د ولایتي شورا غونډې او پرېکړې:

(۱) ولایتي شورا په کال کې څلور غونډې (هرې درې میاشتې) جوړوي، چې د ولایتي شورا د غړیو تر څنګ د ناحیو او ولسوالیو د شوراګانو مشرتابه هم ګډون پکښې کوي. د اړتیا پر مهال د ولایتي شورا مشر کولی شي هر مهال غونډه راوغواړي.

(۲) د ولايتي شورا غونډې د اجنډا مسوده د شورا مشر جوړوي. خو، د شورا د دوو ثلثو په رايو هم د اجنډا مسوده جوړېږي او د شورا مشر يې د رد يا تغير صلاحيت نه لري. په عادي حالت کې (درې مياشتينۍ غونډې) د غونډې اجنډا لږ تر لږه يوه اونۍ وړاندې د غونډې د ګډونوالو سره شريکېږي.

(۳) پر اجنډا تر بحث وروسته پرېکړې د رايو په اکثريت کېږي، او بيا د رهبرۍ شورا او يا هم مرکزي کمېټې ته د تاييد له پاره استول کېږي.

(۴) د ولايتي شورا د غونډو او لا غوره پرېکړو په موخه ولايتي شورا کولی شي د مشورې له پاره د مرکزي کمېټې او يا هم تخصصي کمېټو او سکتورونو لارښوونې د ځان سره ولري.

**<u>د رهبرۍ شورا:</u>**

**دوه دېرشمه ماده:**

**د شورا تشکيل، مسؤوليتونه، صلاحيتونه او د کار طرز العمل:**

(۱) د رهبري شورا د غورځنګ تر ټولو لوړه او نهايي پرېکړه کوونکې مرجع ده چې د اساسنامې، مرامنامې او د غورځنګ د ټولو قوانينو او طرز العملونو د تصويب او تعديل واک لري.

(۲) د اوس له پار د رهبري شورا د وړتيا او غورځنګ ته د ژمنيا پر بنسټ ټاکل شوې چې مؤقته شورا نومول شوې، خو د يوه کال په دننه کې به د رهبرۍ د شورا غړيتوب د ولايتي شوراګانو د ټاکنو له لارې د دريو کلونو له پاره ټاکل کېږي (د غورځنګ د ټاکنو د قانون له مخې، چې د هر ولايت يا سيمې د غړيو شمېر ته په کتو ټاکل کېږي). البته ځيني غړي به مطلق د ځانګړې وړتيا، سياسي سابقې، تخصص او ژمنتيا په اساس د يادې شورا څخه د رايو د اخيستو په اساس د رهبرۍ د شورا غړيتوب ترلاسه کوي.

(۳) د رهبرۍ شورا صلاحيت لري چې د دريو ثلثو د رايو په اساس د مرکزي کمېټې او رهبرۍ شورا، او د دوو ثلثو په اساس د ولايتي شوراګانو غړي د غورځنګ د اساسنامې، مرامنامې او نورو قوانينو او طرز العملونو څخه په سرغړونې له اړوندې کمېټې، شورا او يا هم غورځنګ څخه عزل کړي.

(۴) د غورځنګ تخصصي سکتورونه د غورځنګ او هېواد له پاره اړونده وړانديزونه او مصوبې چمتو کوي چې د مرکزي کمېټې له تاييدۍ وروسته د تصويب اخېري او باصلاحيته مرجع د "رهبرۍ شورا" ته وړاندې کېږي، البته په بېړني حالت کې مرکزي کمېټه کولی شي چې د سکتورونو مهم وړانديزونه تاييد او د غورځنګ شوراګانو او کمېټو ته د عملي کولو هدايات ورکړي.

(۵) د رهبرۍ شورا د مرکزي کمېټې په وړاندیز د غورځنګ د سکتورونو، کمېټو او دارالانشاء مشرتابه ټاکي.

(٦) د رهبرۍ شورا د غورځنګ د کلنۍ بودجې د تصویب یوازنۍ مرجع بلل کېږي.

(۷) د اساسنامې او مرامنامې له مخې د غورځنګ د اهدافو او مبارزو د تصویب صلاحیت د رهبرۍ د شورا سره دی. ټولې هغه پرېکړې چې په لویه کې د غورځنګ او د افغان ملت په هکله وي، د رهبرۍ شورا یې کوي.

(۸) په مرکزي کمېټې کې د بدلون یا تعدیل واک د رهبرۍ د شورا د دریو ثلثونو په رایو رامنځته کېږي.

(۹) رهبرۍ شورا ته د ولایتي شورا څخه د رایو په اساس د راغلي غړي په هکله د اړونده ولایتي شورا هر ډول شکایت (ناغېړي، تنبلي او یا بې تفاوتي) د ولایتي شورا د دوو ثلثو په رایو رهبرۍ شورا ته وړاندې کېږي او نهایي پرېکړه به د رهبرۍ شورا کوي.

(۱۰) که چېرې د رهبرۍ شورا په دننه کې د یوه یا څو غړیو د غړیتوب د سلبولو موضوع رامنځته کېږي، نو د رهبرۍ شورا د اکثریتو رایو په وړاندیز به حتمي پرېکړه د غورځنګ مشر کوي.

(۱۱) د مرکزي کمېټې په ګډون د غورځنګ ټولې کمېټې او ولایتي شوراګانې خپل شپږ میاشتني راپورونه د رهبرۍ شورا ته وړاندې کوي. خو، د رهبرۍ شورا صلاحیت لري چې د کال په جریان کې هر مهال د غورځنګ له هرې کمېټې او شورا څخه راپور وغواړي. د همدې راپورونو پر بنسټ د رهبرۍ شورا یادو کمېټو، شوراګانو یا ټول غورځنګ ته نوي هدایات او اوامر صادروي.

(۱۲) د رهبرۍ شورا صلاحیت لري چې تر ټاکلي وخت مخې غونډه راوبولي او د غورځنګ ټول کهول ته د اړتیا سره سم اوامر صادر کړي.

(۱۳) که چېرې په ځیني مواردو کې د غورځنګ اساسنامه، مرامنامه او نور قوانین او طرز العملونه ګونګ وي، د اړتیا سره سم د پرېکړې یوازېنۍ مرجع د رهبرۍ شورا ده.

**درې دېرشمه ماده:**

**د رهبرۍ د شورا غونډې او پرېکړې:**

(۱) د رهبرۍ شورا په کال کې لږ تر لږه دوې عمومي غونډې جوړوي، خو د اړتیا پر مهال دا غونډې ډېرېدی شي په دې شرط چې د شورا اکثریت دا پرېکړه وکړي. د غورځنګ مشر هر کله کولی شي چې د اړتیا سره سم د مرکزي کمېټې یا د رهبرۍ د شورا غونډه راوبولي، او د غونډې پرېکړې به حتمي وي.

(۲) د شورا د مجالسو مشرتوب د غورځنګ مشر کوي. د شورا پرېکړې د رایو په اکثریت تصویبېږي. د غورځنګ مشر د شورا د پرېکړو د تصویب په موخه د رایې کارولو حق نه لري. اما، که چېرې ټولې رایې مطلق مساوي وي.

(۳) د رهبرۍ د شورا اجنډا به له غونډې حداقل یوه اونۍ وړاندې د شورا د غړیو سره شریکېږي. د اجنډا مسوده به د غورځنګ د مشر په مشوره د غورځنګ دارالانشاء جوړوي او د غورځنګ د مشر له منظورۍ وروسته به د شورا له غړو سره شریکېږي. په ورته وخت کې د شورا دوه ثلثه صلاحیت لري چې اجنډا وټاکي او دارالانشاء ته یې وړاندې کړي، په داسې حالت کې د غورځنګ مشر صلاحیت نه لري چې اجنډا کې بدلون راولي او یا یې هم رد کړي.

(۴) رهبري شورا د غونډې پر اجنډا د بحث او حتمي پرېکړې ته د رسېدو په موخه د غونډې ګډونوال په څو ګروپونو وېشي، او د بحث نه وروسته د اکثریتو د رایو په اساس پرېکړه الزامي کېږي.

<u>**مرکزي کمېټه**</u>

**څلور دېرشمه ماده:**

**د مرکزي کمېټې تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) مرکزي کمېټه د غورځنګ عالي کمېټه ده چې په مسؤولیتونو کې یې د غورځنګ کورنۍ او بهرنۍ همغږي پیدا کول، په هېواد کې د ورځنیو ستونزو د حل لارې لټول، د غورځنګ د پالیسیو په رڼا کې برنامې وضع کول، د ورځني کړنو نظارت کول، او د رهبرۍ شورا د مهمو پرېکړو د اجراآتو څخه نظارت کول دي.

(۲) د مرکزي کمېټې غړي به د رهبرۍ شورا د اکثریتو رایو له لارې ټاکل کېږي. مرکزي کمېټه به د غورځنګ مشر او رهبرۍ شورا ته ځواب ورکونکې وي.

(۳) دا چې د رهبري شورا تشکیل خورا وسیع دی، نو د غورځنګ د ځینو ورځنیو او بېړنیو مهمو مسایلو په هکله د پرېکړې لپاره یې راغونډېدل ګران دي، فلهذا د غورځنګ بېړنۍ پرېکړې مرکزي کمېټه کوي، چې دا پرېکړې الزامي دي.

(۴) د مرکزي کمېټې د غړیتوب لپاره نه یوازې دا چې د رهبري شورا غړیتوب حتمي دی او د همدې شورا له منځه به د رایو په اساس مرکزي کمټې غړیتوب ترلاسه کېږي، بلکې د غړیتوب ترلاسه کولو یا غړیتوب ته نوماندي له پاره د سیاسي تجربې، سابقه، زده کړې او په ځانګړو برخو کې تخصص لرل شرط دي.

(۵) د غورځنګ مشر د مرکزي کمېټې مشرتابه کوي.

(٦) د مرکزي کمېټې د غړو شمېر  تر پنځه دېرشو ډېر نه دی، او د غړیتوب ترلاسه کول د اساسنامې په رڼا کې د رهبرۍ شورا له منځه د درې نیمو کلونو لپاره دی.

(۷) مرکزي کمېټه د غورځنګ د اساسنامې، مرامنامې او نورو لارښودونو په رڼا کې د غورځنګ د اهدافو له پاره د غورځنګ ټولو کمېټو او شوراګانو ته پر وخت هدایات ورکوي او د دوی له فعالیت څخه نظارت کوي.

(۸) د دې له پاره چې د غورځنګ ټول غړي د غورځنګ د ټولو قوانینو او طرزالعملونو په رڼا کې فعالیت او مبارزه وکړي، مرکزي کمېټه د اړتیا سره سم روزنیز ورکشاپونه او پروګرامونه جوړوي.

(۹) مرکزي کمېټه د غورځنګ مشر، ویاندویانو، منشیانو او د یادې کمېټې او د رهبرۍ شورا ټاکل شویوغړو ته د ویناوو له پاره مشورې او وړاندیزونه ورکوي.

(۱۰) که چېرې د مرکزي کمېټې کوم غړی له دې اساسنامې یا د غورځنګ له نورو قوانینو او طرزالعملونه څخه سرغړونه کوي، مرکزي کمېټه د یوه ثلث په رایو د نوموړي د غړیتوب د سلب شکایت د رهبرۍ شورا ته کوي، او د رهبرۍ شورا د اکثریتو مثبتو رایو په اساس د سرغړوونکي غړیتوب له مرکزي کمېټې سلبوي. د رهبري شورا صلاحیت لري چې د دریو ثلثو رایو په اساس د سرغړوونکي غړیبتوب ان له رهبرۍ شورا او غورځنګ څخه هم سلب کړي.

(۱۱)  لکه څرنګه چې مرکزي کمېټه د رهبرۍ د شورا په رایو رامنځته کېږي، په همدې اساس مرکزي کمېټه نه یوازې دا چې د خپلو ټولو فعالیتونو راپور د رهبرۍ شورا ته ورکوي، بلکې د رهبرۍ شورا ته ځواب ورکوونکي هم ده.

**پنځه دېرشمه ماده:**

**د مرکزي شورا د غونډو راغوښتل او د پرېکړو لایحه عمل:**

(۱) مرکزي کمېټه په میاشت کې یو ځلې غونډه رابولي، او د غورځنګ د لا پیاوړتیا او پراختیا تر څنګ د هېواد په ټولو لویو ملي مسایلو بحث کوي او تصمیم نیسي. خو، د بېړنۍ موضوع له پاره د غورځنګ مشر کولی شي چې هر وخت غونډه راوغواړي. د غورځنګ مشر د مرکزي کمېټې مشرتوب کوي، او د نوموړي په نه شتون کې نوموړی د غونډې مشرتابه ټاکي.

(۲) د مرکزي کمېټې د غونډو پرېکړې د غورځنګ پر ټولو څانګو او کمېټو الزامي دي.

(۳) د غورځنګ په هکله د نورو شوراګانو او کمېټو وړاندیزونه او مشورو د تاییدي مرجع د رهبرۍ شورا ده، خو د ببړنۍ موضوعاتو (چې د رهبري شورا درې ثلثه رابلل ګران شي) د تاییدۍ مرجع مرکزي کمېټه ده.

**بهر مېشتې کمېټې:**

**شپږ دېرشمه ماده:**

**د کمېټو تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) په بهرني هېوادونو کې د غورځنګ د غړو شمېر ته پام سره په همغه هېواد کې یوه یا څو کمېټې تشکېلږي، چې په همغه هېواد کې د غورځنګ استازیتوب کوي.

(۲) په هر هېواد کې د غورځنګ د غړو شمېر ته په کتو، د غورځنګ د کمېټو ټاکنې او تشکیل د ولایتي شورا د ټاکنو او تشکیل په څېر دی. هره کمېټه یو مشر، مرستیال، منشي او ځانګړې کمېټې لري.

(۳) په بهرني هېوادونو کې د غورځنګ د کمېټو ټاکنې او نتایج د غورځنګ د انلاین ډېټابېس له لارې ترسره کېږي.

(۴) د بهر مېشتې کمېټې مشر د غونډو د رابللو او مشرتوب مسؤولیت او صلاحیت لري. د کمېټې مشر په مېشت هېواد کې د غورځنګ د ټولو فعالیتونو څارنه کوي او د رهبرۍ شورا او مرکزي کمېټې سره پر ټاکلي وخت یا د اړتیا سره سم راپور شریکوي.

(۵) هره بهر مېشته کمېټه د مېشت هېواد د ټولو نافذه قوانینو په رڼا کې د غورځنګ له پاره فعالیت او مبارزه کوي.

(٦) هره بهر مېشته کمېټه د غورځنګ د پیاوړیتوب او پراختیا په موخه مالي مرستې راغونډوي او د غورځنګ د شفاف، سرې او خوندي انلاین ډېټابېس (چې د ځانګړې مالي پالیسۍ له مخې جوړ شوی) له لارې یې د غورځنګ مالي کمېټې (بانکي حساب) ته جمع کوي، د غورځنګ یاد ډېټابېس ته د مالي کمېټې ترڅنګ، مرکزي کمېټه، د رهبرۍ شورا او اړونده بهر مېشته کمېټه لاس رسی لري، او مالي کمېټه یادو مراجعو ته د ترلاسه شوي مالي مرستو د لګښت ځواب ورکوونکې ده.

(۷) د مرکزي کمېټې له همغږۍ، مشورې او یا هدایت پرته د غورځنګ په نوم هېڅ ډول مالي مرستې نه شي راټولېدی. حق العضویت له دې امره مستثناء دی.

(۸) بهر مېشته کمېټه په مېشت هېواد کې د نورو کوچنيو سيمه اييزو کمېټو د رهبرۍ او مديريت مسؤوليت او صلاحيت لري.

(۹) هره بهر مېشته کمېټه د ولايتي شورا په څېر د ټاکنو له لارې يو يا څو غړي د رهبرۍ شورا ته ورپېژني.

(۱۰) د رهبرۍ شورا بهر مېشت غړي د شورا په غونډو کې په انلاين ډول ګډون کوي.

(۱۱) هره بهر مېشته کمېټه په عمومي توګه د افغانستان او په ځانګړي توګه د غورځنګ د پياوړتيا او ښېرازۍ په موخه هلې ځلې کوي. هره بهر مېشته کمېټه د غورځنګ داساسنامې، مرامنامې، نور قوانينو او طرزالعملونو، او په مېشت هېواد کې د نافذه قوانينو په رڼا کې غونډې جوړوي، د غورځنګ او افغانستان په ملاتړ لاريونونو تنظميوي، او د مېشت هېواد د ملاتړ په موخه نور اړين سياسي فعاليتونه او مبارزې کوي.

**<u>مشورتي بورډ:</u>**

**اوو دېرشمه ماده:**

**د مشورتي بورډ تشکيل، مسؤوليتونه او صلاحيتونه:**

(۱) د ياد بورډ هدف د غورځنګ د اهدافو ملاتړ دی، د غورځنګ اهدافو ته په غوره ډول او چټکۍ د رسېدو په موخه داسې مفکرين، متخصصين او متنفذين راغونډول دي چې د غورځنګ د پياوړتيا او پراختيا له پاره غورې مشورې ورکړي.

(۲) د دې بورډ غړي چې د غورځنګ نورو تخصصي کمېټو ته مشورې او لارښوونې ورکوي بايد په بېلابېلو برخو کې لکه سوله، سياست، حقوق، جغرافيه، تاريخ، ټولنپوهنه، نړۍ وال روابط، اقتصاد، مطبوعاتو او نورو برخو کې ځانګړي مهارتونه ولري.

(۳) ياد بورډ د اړتيا سره سم د غورځنګ مشرتابه، رهبري شورا، مرکزي کمېټه او نورو تخنيکي سکتورونه ته وخت نا وخت مشورې او لارښوونې کوي.

(۴) ياد بورډ په بېړني حالت کې د غورځنګ د موقف په هکله مشورې ورکوي.

**<u>مستقلې کمېټې</u>**

**اته دېرشمه ماده:**

د باور غورځنګ په مستقلو کمېټيو کې مالي، حقوقي، جلب او جذب، ټاکنو، فرهنګي او مطبوعاتي، او د داخلي منازعاتو د حل کمېټې شاملې دي.

**نهه دېرشمه ماده:**

**د کمېټو په هکله عمومي معلومات:**

(۱) د غورځنګ د داخلي قوانينو له مخې چې د ولسواکۍ پر اصل ولاړ دي د مستقلو کمېټو غړي مرکزي کمېټې له خوا معرفي کېږي او د رهبري شورا يې ټاکي. د کمېټو د غړيتوب له پاره د ژمنتيا او سپېڅلتيا تر څنګ اړونده تجربه او تخصص شرط دی.

(۲) د رهبرۍ د شورا د اکثريتو رايو پر اساس د کمېټو په تشکيل، مسؤوليتونو او صلاحيتونه کې تغير راتلی شي.

(۳) هره کمېټه يو مشر او منشي لري. د مشر په مسؤوليتونو کې د غونډې راغوښتل، د غونډې اجنډا جوړول، د لاندې کمېټو وړانديزونه منظورول، د هغو د فعاليتونو څخه نظارت کول، رهبرۍ شورا، مرکزي کمېټې او د غورځنګ مشر ته راپور ورکول دي.

(۴) د کمېټو غړي د رهبرۍ شورا د اکثريتو رايو په اساس ټاکل کېږي. خو، د کمېټې مشر او منشي د کمېټې د غړو د اکثريتو رايو پر بنسټ ټاکل کېږي.

(۵) د کمېټې منشي د کمېټې د غړو تر منځ همغږي رامنځته کوي او د کمېټې د مشر په غير موجوديت کې د کمېټې د سرپرست په توګه مسؤوليت پر مخ بيايي. د کمېټې منشي د کمېټې د مالي چارو مسؤوليت هم لري او مياشتېنی راپور ترتيبوي.

(٦) د اړتيا پر مهال هره کمېټه کولی شي چې په خپلو پاليسيو کې تعديل راولي، دا وړانديز مرکزي کمېټې ته کېږي او مرکزي کمېټه يې د تصويب له پاره د رهبرۍ شورا ته وړاندې کوي. په بېړني حالت کې مرکزي کمېټه صلاحيت لري چې د کمېټې وړانديز تصويب کړي.

(۷) د اړتيا پر مهال ځانګړې کمېټې کولی شوي د بلې کمېټې يا بهرنۍ ادارې (له غورځنګه دباندې) څخه تخنيکي مرسته وغواړي، البته د مرکزي کمېټې تاييدي شرط ده.

(۸) که چېرې د کمېټې له پاره غوره متخصصین په موندلو کې ستونزه رامنځته کېږي، مرکزي کمېټه او د رهبرۍ شورا انعطاف ښیي، البته په قوانینو او پالیسیو کې تغییر نه راځي، تر څو چې د رهبرۍ شورا د اکثریتو رایو په اساس تعدیل رامنځته نه شي.

**<u>مالي کمېټه:</u>**

**څلوېښتمه ماده:**

**د مالي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) مالي کمېټه د غورځنګ د ټولو قوانینو او د یادې کمېټې د ځانګړي طرزالعمل له مخې خپل ټول مسؤولیتونه په شفاف ډول تر سره کوي، د غورځنګ له پاره د ترلاسه شوي هرې افغانۍ حساب په ځانګړي ډېټابېس کې ساتي، او د هېڅ داسې دولتي او غیر دولتي ادارو او افرادو څخه مالي مرسته نه ترلاسه کوي چې د غورځنګ پر اهدافو او ملي ګټو منفي اغېز ولري. مالي کمېټه د غورځنګ د مشرتابه او مرکزي کمېټې د اجازې پرته هېڅ ډول فنډ رایزېنګ یا مرستې او بسپنه نه شي راټولوی. یاده کمېټه د غورځنګ له پاره ترلاسه شوې هره افغانۍ د غورځنګ د اهدافو له پاره په نهایت احتیاط او ځواب ورکوونکي مېکانېزم مصرفوي.

(۲) د مالي کمېټې غړي د امکان تر حده په مالي مسایلو کې تجربه لرونکي دي.

(۳) یاده کمېټه مسؤولیت لري چې د پرمختللي ډېټابېس له مخې په شفاف ډول مصارف وکړي، او د غورځنګ له پاره درې، شپږ او دوولس میاشتینی بودجوي پلان جوړ او د غورځنګ له مشر او مرکزي کمېټې څخه یې تایید کړي.

(۴) یاده کمېټه د مرستو یا بسپنو د ترلاسه کولو له پاره ځانګړي پلانونه جوړوي.

(۵) یاده کمېټه د غورځنګ د نورو کمېټو او شوراګانو د اډېټ / تفتیش مسؤولیت لري چې ټول اډېټ د یوه واحد راپور په ترڅ کې د غورځنګ د رهبرۍ د شورا سره په کال کې دوه ځلې شریکوي.

(٦) مالي کمېټه د اړتیا پر مهال د غورځنګ ټولو نورو کمېټو او شوراګانو مالي برخو ته غوري مشوروې ورکوي، او دوی ته د بسپنو د راټولو له پاره بېلابېل مېکانېزم او پلانونه جوړوي، چې د غورځنګ د مشر او یا د مرکزي کمېټې له تاییدۍ وروسته عملي کېږي.

(۷) یاده کمېټه د ځانګړي مالي ډېټابېس له لارې د غورځنګ د نورو ټولو کمېټو او شوراګانو (په هېواد کې دننه او دباندې) سره وصله ده.

**<u>حقوقي کمېټه:</u>**

**یو څلوېښتمه ماده:**

**د حقوقي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) د غورځنگ حقوقي کمېټه د حقوق پوهانو څخه جوړه کمېټه ده چې د مرکزي کمېټې په وړاندیز یې د رهبرۍ شورا ټاکي.

(۲) حقوقي کمېټه د غورځنگ مشرتابه او نورو شوراگانو او کمېټو په ځانگړي ډول د رسنیو کمېټې ته د اړتیا پر مهال حقوقي مشورې ورکوي.

(۳) حقوقي کمېټه د غورځنگ په وړاندې د دولتي، غیر دولتي ادارو او افرادو له لوري د غیر قانوني کړنو، تورونو او ابهاماتو د رېکارډ ساتنې ترڅنگ د هغو د دفعې په موخه قانوني چلند کوي.

(۴) د دولت له لوري د قانون د نقص په صورت کې یاده کمېټه د نقض شوي قانون/قوانینو مواد راغونډوي او غورځنگ له پاره د قانون څخه د دفاع اسناد چمتو کوي تر څو غورځنگ پر دولت فشار راوړي چې قانون مراعت او پلي کړي.

(۵) د اړتیا پر مهال حقوقي کمېټه د غورځنگ په اساسنامه، مرامنامه او نورو قوانینو کې د تعدیل په موخه مرکزي کمېټې ته وړاندیز کوي چې مرکزي کمېټه یې د رهبرۍ د شورا سره شریکوي.

**<u>د جلب او جذب کمېټه:</u>**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

**د جلب او جذب د کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

(۱) د جلب او جذب کمېټه مسؤولیت لري چې د غورځنگ نورو شوراگانو ته د کور په کور د کمپاین برنامې جوړې کړي، د نورو شوراگانو په همغږۍ د غورځنگ د مشرتابه له پاره سفرونه تنظیم کړي او د سفرونو لپاره د نورو شوراگانو په مرسته د یادې سیمې ستونزې او حل لارې په اجنډا کې شاملې کړي.

(۲) یاده کمېټه مسؤولیت لري چې د مطبوعاتو له کمېټې څخه د هېواد په کچه د ملي مسایلو مانیټورېنگ راپور واخلي او د مرکزي کمېټې سره له شریکولو وروسته بېرته د مطبوعاتو د کمېټې له لارې د غورځنگ موقف او همدا رنگه د ملي گټو څخه د دفاع او خوندیتوب په موخه مطبوعاتي تبلیغات ترتیب کړي.

(۳) د جلب او جذب کمېټه به د مرکزي کمېټې له تاييدۍ وروسته ولايتي شوراګانو ته د ځانګړې برنامو هدايت ورکوي، او د اړتيا پر مهال به د هر ولايت له پاره له مرکزه ډلې جوړوي او د جلب او جذب په موخه به يې ولايتي سفرونو ته لېږي.

(۴) د جلب او جذب کمېټه به د هېواد په کچه مهم متنفذين، ديني علماء، سياسيون، قامي مشران، ځوانان او مېرمنې لېست کوي او د غورځنګ د مشرتابه سره به يې د ملاقات زمينه برابروي.

(۵) ياده کمېټه مسؤوليت لري چې په هېواد کې دننه او دباندې د غورځنګ د غړو د شمېر ډېټابېس په مياشت کې يو ځلې د مرکزي کمېټې سره په ټولو جزيياتو د راپور په شکل شريک کړي. مرکزي کمېټه د اړتيا پر وخت هر مهال کولی شي ياد راپور وغواړي.

(٦) ياده کمېټه د مطبوعاتي کمېټې په مرسته په هېواد کې د هر ډول طبعي او د جګړې د پېښو د راپور له مخې د پېښو د قربانيانو او مستحقينو لېست ترتيبوي، او ياد راپور د مالي کمېټې سره شريکوي تر څو مالي کمېټه د مرستې/بسپنې د راغونډولو لړۍ پيل او ياده کمېټه يې د پېښو تر قربانيانو يې ورسوي.

(۷) ياده کمېټه د نورو شوراګانو او کمېټو په مرسته د ټولو اقشارو (ديني علماء، قامي مشران، متنفذين، سياسيون، ځوانان، مېرمنې) او ادارو (جوماتونو، پوهنتونونو، مدني ټولنو او بېلابېلو صنفونو) له پاره ځانګړي ورکشاپونه، روزنيز او معلوماتي برنامې ترتيبوي.

(۸) دا چې غورځنګ تر هر څه لومړيتوب فکري او شعوري سياست ته ورکوي، په همدې اساس ياده کمېټه تر ټولو ډېر تمرکز د مېرمنو په جلب او جذب کوي، تر څو د دې هېواد سم نيمايي نفوس د خپلو ورونو تر څنګ د هېواد په رغونه کې کليدي نقش ولوبوي.

(۹) ياده کمېټه مسؤوليت لري چې د فکر او قانون پوهاوی د هېواد تر ګوټ ګوټه ورسوي، تر څو د هېواد هر وګړی خپل برخليک په خپله وټاکي.

(۱۰) دا چې د جلب او جذب کمېټه د غورځنګ تر ټولو مهمه کمېټه بلل کېږي، ياده کمېټه لاندې اقشار تشکيلوي:

۱ ديني علماء

۲ د پوهنتون استادان

۳ قامي مشران

۴  سیاسیون

۵ مېرمنې

٦ ځوانان

۷ متنفذین

**<u>فرهنګي او مطبوعاتي کمېټه:</u>**

**درې څلوېښتمه ماده:**

(۱)  فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې مسؤولیتونه او صلاحیتونه

۱ د غورځنګ د فعالیتونو او برنامو فرهنګي او رسنیز مدیریت.

۲ د غورځنګ مبارزو ته ګټور، اغېزمن او مسلکي پوښښ ورکول.

۳ د غورځنګ د جلب و جذب له پاره هلې ځلې.

(۲) د کمېټې عمومي دندې:

۱ د یادې کمېټې د کار پلان جوړول.

۲ د تبلیغاتي موادو لکه تصویري او صوتي کلېپونو، بېلبوډونو، بنرونو، پوسټرونو، بروشرونو، پېمفلټونو، وال چاکېنګز او نورو تبلیغاتي موادو راغونډول، تنظیمول، طراحي کول، ډیزانول او د محتوا تولیدول.

۳ د رسنیو او خبریالانو (صوتي، تصویري، چاپي او الېکټرونیکي) سره پراخې او دوامداره اړیکي ساتل.

۴ د ټولو لویو ملي سیاسي، امنیتي، ټولنیزو او فرهنګي مسایلو په هکله اطلاع رسونه.

۵ په تلویزیوني او راډیویي بحثونو او مرکو کې ګډون کول.

٦  د غورځنګ د پیغام رسونې په موخه په ولایتي کچه رسنیز ګروپونه جوړول او معلومات ورسره شریکول تر څو دوی د سیمه ایيزو چاپي، تصویري او صوتي رسنیو له لارې د غورځنګ افکار تر خلکو ورسوي.

۷ د ځانګړو او ټاکل شویو رسنیو سره ځانګړې او دوامداره همغږي جوړول.

۸ د ټولنیزو شبکو له پاره ځانګړی ګروپ لرل او د ولایتي رسنیزو کمېټو سره دوامداره همغږي ساتل.

۹ د مېډیا مونیټورېنګ (څار) ګروپ لرل.

۱۰ د ټولې کمېټې اوونیز راپور جوړول او د مرکزي کمېټې سره شریکول.

(۳) د فرهنګي  او مطبوعاتي کمېټې تشکیلات:

۱ د فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې د غړو شمېر د اوس مهال له پاره پینځلس تنه دی، خو د اړتیا سره سم دا تشکیل پراخېدلی شي. یاده کمېټه یو مشر، مرستیال، منشی او دوې شوراوې (اجرایه او مشورتي) لري چې د مسلکیتوب تر څنګ ژبه نیز او جنسیتي انډول هم په پام کې نیول کېږي.

۲  د فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې غړي د مرکزي کمېټې له خوا معرفي او د رهبرۍ شورا له لوري ټاکل کېږي. د یادې کمېټې مشرتابه (مشر، مرستیال او منشي) د کمېټې د خپل منځي ټاکنو له لارې ټاکل کېږي.

۳ د کمېټې مشورتي بورډ د کمېټې له پاره د اساسي خطونه او ستراتیژۍ په ټاکلو کې مشوره ورکوي.

۴ اجرایه شورا د پرېکړو د اجرأ مکلفیت لري. یاده شورا په دوو برخو فرهنګي او مطبوعاتي وېشل شوې، هره برخه کوچني کاري ګروپونه لري.

(۴) د کمېټې د مشر مسؤولیتونه:

۱ د کمېټې مشر د کمېټې د مشرتوب، مدیریت او څار مسؤولیت لري، د نوموړي عمده مسؤولیتونه په لاندې ډول دي:

۱- د غورځنګ د رهبرۍ (د رهبري شورا او مرکزي کمېټې) په ناستو کې ګډون کول.

۲- د کمېټې د ټولو برنامو او فعالیتونو له پاره مطبوعاتي برنامې جوړول او له هغو څخه مدیریت کول.

۳- د کمېټې د داخلي ګروپونو تر منځ همغږي ساتل.

۴- د رسنیو او خبریالانو سره اړیکي جوړول او ساتل.

۵- د کمېټې مرستیال او نورو غړو ته د صلاحیتونو تفویض.

(۵) د مرسیتال مسؤولیتونه:

۱ د کمېټې مرستیال د رئیس او مشورتي شورا سره په همغږۍ خپله دنده اجرأ کوي.

۲ د يادې کمېټې په غونډو کې ګډون کول.

۳ د کمېټې د رئیس سره په همغږۍ د کمېټې له پاره برنامې جوړول، مدیریت، نظارت او د کمېټې د ګروپونو تر منځ همغږي رامنځته کول.

۴ د کمېټې د مالي او تدارکاتي چارو مدیریت او نظارت.

۵ د رئیس په غیابت کې د کمېټې رهبري او مدیریت.

٦ د کمېټې د رئیس له خوا د سپارل شوي مسؤولیت اجرأ.

(٦) د مشورتي شورا دندې:

مشورتي شورا د فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې په چوکاټ کې مشورې ورکوي. د یادې شورا تشکیل په فرهنګي او مطبوعاتي برخه کې له روڼاندو او متخصصینو جوړه ده، چې د کمېټې د رئیس او مرکزي کمېټې له خوا ټاکل کېږي. د مشورتي شورا غړي د یادې کمېټې په ټولو غونډو کې ګډون کوي. د یادې شورا دندې په لاندې ډول دي:

۱ د کمېټې په ټولو غونډو کې ګډون کول.

۲ د غورځنګ او لویو ملي مسایلو په هکله مشورې ورکول.

۳ د تبلیغاتي موخې په هکله پوښتنو او ننګونو ته طرحې جوړول.

(۷) اجرایوي شورا:

اجرایوي شورا د فرهنګي او مطبوعاتي کمېټې د ملا تیر بلل کېږي او د یادې کمېټې د ټولو برنامو د اجرأ کولو مسؤولیت لري، د یادې کمېټې مسؤولیتونه په لاندې ډول دي:

۱ فرهنګي برخه:

د یادې کمېټې فرهنګي برخه مسؤولیت لري چې د غورځنګ د فرهنګي فعالیتونو له پاره برنامې ډیزاین او اجرأ کړي. د کمېټې دا برخه په درېو کاري ګروپونو (د محتوا تولید، چاپ او نشر او اړیکو) باندې وېشل شوې چې په لاندې ډول دي:

۱- د محتوا تولید:

الف: د غورځنګ د رهبرۍ له پاره د ویناوو د محتوا تولید

ب: د غورځنګ د ټولو تبلیغاتي موادو لکه بنرونه، بلبورډونو، پوسټرې، بروشرې، شعارونو، تري ډي وېډیویي کلېپونو او نورو له پاره د محتوا تولید.

ج په پښتو، دري او انګرېزي ژبو د چاپي نشراتو له پاره د مطالبو د محتوا تولید.

د: د کمېټو د غړو تر منځ همغږي جوړول.

۲- د چاپ او نشر د ګروپ مسؤولیتونه:

دا ګروپ په دوو برخو (طرحه او ډیزاین) او (چاپ او تکثیر) وېشل شوی. د یاد ګروپ کارمندان مطلق تخنیکي دي او طرحې، ډیزاین، چاپ او تکثیر د وسایلو او ابزارو سره بشپړه بلدتیا لري. د یاد ګروپ مسؤولیتونه په لاندې ډول دي:

الف: د شعارونو طرحه او ډیزان.

ب: د بنرونو، بلبورډونو، پوسټرونو، بروشرو او نورو تبلیغاتي موادو طرحه او ډیزاین.

ج: د کمېټې د مشر سره په همغږۍ د شرکتونو سره د موادو قرارداد.

د: د تبلیغاتي موادو د توزیع، نصب او له هغو څخه نظارت او ساتنه.

ه: د نصبېدونکو/لګېدونکو تبلیغاتي موادو له پاره د ځای تعیین.

و: د تبلیغاتي موادو د لګولو له پاره د اړونده ادارو سره همغږي کول.

ز: د کمېټې د نورو غړو سره همغږي جوړول.

۳- د فرهنګي ټولنو، ډلو او افرادو سره د اړیکو ګروپ:

الف: د فرهنګي ټولنو، ډلو او افرادو سره اړیکې جوړول.

ب: د فرهنګي ټولنو، ډلو او افرادو سره د غورځنګ د ملاتړ په موخه همغږي، تشویق او د دوی بسیج کول.

ج: د کمېټې د نورو غړو سره همغږي ساتل.

۲ رسنیزه برخه:

دا گروپ د رسینزو برنامو د طرحو، ډیزاین او اجرأ مسؤولیت لري. یاد گروپ په لاندې دریو برخو وېشل شوی:

۱- چاپي رسنۍ:

الف: د غورځنگ پیغامونه ته د پوښښ په موخه د چاپي رسنیو سره پراخې او دوامداره اړیکې جوړول.

ب: د مطالبو او مقالو تولید او په چاپي رسنیو (ورځپاڼو، اوونیزو او مجلو) کې خپرول.

ج: د کمېټې د نورو غړو سره همغږي جوړول.

۲- تصویري او صوتي رسنۍ:

الف: د تصویري او صوتي رسنیو سره پراخې او دوامداره اړیکې جوړول تر څو د غورځنگ برنامو ته پراخ پوښښ ورکول شي.

ب: د غورځنگ د اهدافو په موخه تصویري او صوتي کلېپونه جوړول.

ج: صوتي او تصویري رسنیو مانیټورېنگ، د هېواد په کچه لویو ملي مسایلو خبر ژر تر ژره د کمېټې د مشرتابه سره شریکول.

د: د کمېټې د نورو غړو سره همغږي پیدا کول.

۳- ټولنیزې رسنۍ:

الف: هېواد کې دننه او دباندې د ټولنیزو شبکو (فېسبوک، ټویټر او انسټاگرام) فعاله غړو تشخیص، او د غورځنگ له پاره د هغوی ملاتړ ترلاسه کول.

ب: د ټولنیزو شبکو له پاره د غورځنگ فعاله شبکه جوړول.

ج: په ټولنیزو شبکو کې د غورځنگ له پاره دوامداره پراخ کمپاین او د غورځنگ موقف څرگندول.

د:د کمېټې د نورو غړو سره همغږي ساتل.

(۸) ویاندویان او شنونکي:

۱ د غورځنګ د ویاندویانو او شنونکو (چې د غورځنګ د رهبرۍ د شورا یا مرکزي کمېټې د غړو په توګه به معرفي کېږي) په تلویزیوني او راډیویي خپرونو کې د غورځنګ موقف څرګندوي. په یاد ګروپ کې ژبه نیز او جنسیتي انډول په پام کې نیول شوی چې د مرکزي کمېټې د معرفت وروسته به یې د رهبرۍ شورا ټاکي.

۲ د غورځنګ د موقف اړوند رسنیزې طرحې جوړول.

۳ د غورځنګ اړوند او د لویو ملي مسایلو په هکله د اطلاع رسونې له پاره د برنامو طرحې او دیدګاه آماده او وړاندې کول.

۴ د کمېټې د نورو غړو سره همغږي جوړول.

۵ د غورځنګ د ویاندیانو شمېر به دوه کسان چې یوه یې مېرمن او یو نارینه وي، او په دواړو ملي ژبو راونې خبرې وکولی شي، د سیاسي بصیرت تر څنګ د ژبې فصاحت، وضاحت او بلاغت ولري. هڅه به دا وي چې په انګرېزي ژبه هم بلد وي.

٦ د غورځنګ د مشرتابه پرته یوازې ویاندویان کولی شي چې د غورځنګ له ادرسه رسمي اعلامیې خپرې کړي.

(۹) د ویاندویانو مسؤولیتونه:

۱ د غورځنګ د مشر په مشوره او هدایت مطبوعاتي کانفرنسونه، د رسنیو او خبریالانو سره په اړیکه کې کېدل، د غورځنګ مثبت عکس، ویناوې او اهداف وړاندې کول.

۲ ویاندویان د غورځنګ موقف په سیاسي بصیرت او غیر احساساتي برخورد وړاندې کوي، او د هر هغه ډول احساساتي برخورد څخه ډډه کوي چې د غورځنګ سیاسي او اخلاقي حیثیت ته زیان ورسوي.

**<u>د ټاکنو کمېټه:</u>**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

**(۱) د ټاکنو کمېټې تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

۱د غورځنګ د ټاکنو د کمېټې بنسټیز هدف د غورځنګ د ټولو شوراګانو او کمېټو شفافې ټاکنې ترسره کول دي.

۲ د ټاکنو د کمېټې د غړو شمېر تر یوویښتو ډېر نه دی، د کمېټې غړي به د رهبرۍ د شورا له لوري ټاکل کېږي. د کمېټې هر غړی به د زون په کچه د ولایتي شوراګانو فوکل پواینټ وي.

۳ هره ولایتي، ولسوالۍ، کلي، ناحیې او بهر مېشته کمېټه خپله ټاکنیزه کمېټه لري چې هر یو یې یو فوکل پواینټ لري او هغه فوکل پوائینټ به د عمومي ټاکنیزې کمېټې د فوکل پواینټ سره په اړیکه کې وي.

۴ د غورځنګ د ټولو ټاکنو رېکارډ د غورځنګ په انلاین ډېجېټل او مېنول ډېټابېس کې ساتل کېږي.

۵ د غورځنګ د عمومي ټاکنیزې کمېټې، نورو شوراګانو او کمېټو د فوکل پواینټونو مسؤولیت د غورځنګ د اساسنامې، مرامنامې او نورو قوانینو او طرزالعملونو په رڼا کې د ټاکنو له پاره شرایط او مواد چمتو کول دي، او د همدې قوانینو له مخې د نوماندوانو د سابقې تر څنګ د دوی په هکله بشپړه څېړنه کول او معلومات راغونډول دي.

٦ د ټاکنو کمېټه د ټولو ټاکنو مهال وېش جوړوي او د تایید له پاره یې د رهبرۍ شورا ته وړاندې کوي.

۷ د ټاکنو د کمېټې د غړیتوب له پاره د غورځنګ د ټولو قوانینو د مراعتولو تر څنګ بېطرفي او د ټاکنو په سېستم پوهاوی او تخصص شرط دی.

<u>**د داخلي منازعاتو د حل کمېټه:**</u>

**پنځه خلوېښتمه ماده:**

**(۱) د کمېټې تشکیل، مسؤولیتونه او صلاحیتونه:**

۱ د یادې کمېټې بنسټیز هدف د غوره اخلاقو او عدالت په مراعتولو د غورځنګ داخلي ستونزې او یا هم اختلافات حل کول دي. یاده کمېټه په غورځنګ کې د عدالت، همکارۍ، مګرتیا او متقابل احترام دود ته وده ورکوي.

۲ د یادې کمېټې راپور رهبرۍ شورا او یا هم د غورځنګ مشرتابه ته وړاندې کېږي ترڅو مشرتابه پرېکړه وکړي، د مشرتابه پرېکړه د غورځنګ پر هر غړي الزامي ده.

۳ د یادې کمېټې غړي بې پرې او د ستونزو په حل کولو کې متخصصین دي، دوی د ستونزو د حل له پاره د تفتیش او څېړنې ځانګړې مهارت او تجربه لري، او د څېړونو وروسته پر حقایقو ولاړ راپور چمتو.

۴ د یادې کمېټې له پاره حتمي ده چې د دوی ټول فعالیت د عدالت، بې طرفۍ، برابري، تخصص، شهادت او اسنادو پر بسنټ وي.

۵ یاده کمېټه د غورځنګ د اساسنامې، مرامنامې او نورو قوانینو په رڼا کې د داخلي منازعاتو حل لارې لټوي، او د ټولو حقیقتونو د ترلاسته کولو وروسته خپل راپور د غورځنګ مشر، رهبري شورا یا مرکزي کمېټې سره په لیکلي بڼه شریکوي. د غورځنګ د کوم غړي یا غړو په وړاندې د قوانینو څخه د سرغړونې په ترڅ کې د کمېټې وړاندیز له شفاهي، تحریري اخطار څخه نیولې له غورځنګ څخه تر ایستلو پرېکړې شاملې دي.

<u>**د غورځنګ مشر:**</u>

**شپږ ځلوېښتمه ماده:**

(۱) د غورځنګ د مشر په هکله:

۱ د غورځنګ د قوانینو په رڼا کې د رهبري شورا د اکثریتو رایو په اساس د غورځنګ مشر دځلورو کلونو له پاره ټاکي. د غورځنګ مشر د ټول غورځنګ د رهبرۍ د ظرفیت او وړتیا تر څنګ غورځنګ ته د لا پیاوړتیا او پراختیا ورکولو وړتیا او سیاسي بصیرت باید ولري.

۲ غورځنګ د اوس له پاره مؤقت مشر لري، او د انتخابي رهبري شورا د بشپړېدو سره سم د غورځنګ د نورو برخو او مشرتابه ټاکنې ترسره کېږي.

۳ د غورځنګ مشر د رهبرۍ د شورا په ځلورو کې د دریو ثلثو په رایو له دندې ګوښه کېدی شي، البته د غورځنګ د قوانیو په نقض، لاعلاجه ناروغي، جنایت یا ملي خیانت له ثابتېدو وروسته.

(۲) د غورځنګ د مشر مسؤولیتونه:

۱ د غورځنګ مشر د رهبرۍ د شورا تر چتر لاندې او د غورځنګ د ټولو قوانینو په رڼا کې د غورځنګ د اهدافو د ترلاسه کولو په موخه غورځنګ ته واقعي او ریښتینی سیاسي مسیر ورکوي، او په دې هکله د غورځنګ ټولې ځانګړې او مؤقتې کمېټې او شوراګانې رهبري کوي، او د غورځنګ ټولې برنامې، بیانیې، د فعالیت ډول او مسؤولیتونو څخه څارنه کوي.

۲ د غورځنګ دارالانشاء او مطبوعاتي کمېټې په ځانګړي ډول ویاندویانو ته مستقیم هدایات ورکوي او د اجراأتو څخه یې نظارت کوي.

۳ د غورځنګ مشر د ټولو کمېټو په ځانګړي ډول د مالي کمېټې او ټولو شوراګانو راپورونه ترلاسه کوي او د خپل وړاندیزونو یا تبصرو سره یې د رهبرۍ شورا ته وړاندې کوي.

۴ د غورځنګ د سیمه اییزو دفترونو یا شوراګانو وړاندیزونه تایید یا ردول.

۵ د غورځنګ د اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د غورځنګ مشر د نورو سیاسي خوځښتونو، ګوندونو او نورو ادارو او ټولنو د مشرانو سره لیدنې کوي، او د مختلو مجلسونو، کانفرنسونو، لویو غونډو، لاریونو او نورو برنامو رهبري او مدیریت کوي.

٦ د غورځنګ مشر د غورځنګ د قوانینو له مخې د رهبرۍ د شورا او مرکزي کمېټې د غونډو مشرتوب کوي او د دوی له فعالیتونو څخه نظارت کوي.

۷ د غورځنګ مشر په ټولو مواردو کې مرکزي کمېټې ته هدایات ورکوي او د یادې کمېټې ټول غړي ورکول شوي هدایات عملي کوي. خو، د موضوع سره د اکثریتو رایو په مخالفت یادې کمېټې ته هدایات د رهبرۍ شورا ورکوي، البته د رایو په اکثریت.

۸ د اړتیا پر مهال د غورځنګ مشر د مرکزي کمېټې مشرتابه د یادې کمېټې بل غړي ته په عبوري شکل سپاري، لاکن، د صلاحیت تفویض به ګردشي حالت لري، یعنې یو کس تر یوه ځل ډېر نه شي کولی چې د مرکزي کمېټې عبوري مشرتوب ولري.

۹ د غورځنګ مشر د داخلي اختلافاتو د رامنځته کېدو په حالت کې مطلقاً بې طرفي یعنې عدالت په پام کې نیسي، او هڅه کوي چې په غورځنګ کې همغږي او یووالی وساتي.

۱۰ د غورځنګ د مشر په الفاظو او عمل کې باید هېڅ ډول تضاد یا اختلاف نه وي.

__د غورځنګ دارالانشاء:__

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) دارالانشاء غړي مطلقاً تخینکي کسان دي، په ځانګړي ډول په اداري، مالي، ټکنالوژي او د غونډو په جوړولو کې مهارت لري. د امکاناتو په صورت کې د معاش په بدل کې متخصصین استخدامېږي، خو تر هغه مهاله دارالانشاء د غورځنګ له غړو تشکیل شوې.

۱ دارالانشاء د غورځنګ د رهبرۍ شورا، مرکزي کمېټې او نورو کمېټو د اهدافو له پاره تخنیکي کارونه کوي.

۲ دارالانشاء د غورځنګ د مالي سرچینو په مرسته فعالیت کوي.

۳ دارالانشاء د غورځنګ د مشر تر رهبرۍ لاندې فعالیت کوي.

(۲) د دارالانشاء مسؤولیتونه:

۱ دارالانشاء د هبرۍ شورا، مرکزي کمېټې، د غورځنګ مشرتابه او نورو کمېټو ته د تخینکي مرستو په موخه فعالیت کوي.

۲ دارالانشاء د غورځنګ د ټولو پرېکړو او فعالیتونه رېکارډ ساتي چې یوازې د غورځنګ مشر او د نورو کمېټو مشران په خپله برخه کې ورته لاس رسی لري.

۳ دارالانشاء د غورځنګ اړونده غونډو، ناستو، لاریونونو، کانفرنسونو، ورکشاپونو او نورو برنامو او د غورځنګ مشرتابه د سفرونو له پاره د امکاناتو د تنظیمولو مسؤولیت لري.

۴ د غورځنګ اهدافو ته د رسېدو په موخه دارالانشاء د غورځنګ د مشر، رهبرۍ شورا یا د دوی له خوا د معرفي شوي کس یا کمېټې څخه هدایت اخلي.

<u>**د غورځنګ اخلاق او اصول:**</u>

**اته څلوېښتمه ماده:**

(۱) غورځنګ د چلند اصول د دې اساسنامې مهمه برخه او د غورځنګ پر هر فرد الزامي ده. د غورځنګ هر هغه غړی چې د دې اصولو او د غورځنګ د نورو قوانینو څخه سرغړونه کوي د همدې اساسنامې په رڼا کې ورسره چلند کېږي. د غورځنګ پر هر غړي د چلند لاندې اصول الزامي دي:

۱ پرته له کوم ژبه نیز، قامي، مذهبي، سمتي، سیاسي او فکري نظر، جنسیتي، مالي او ټولنیز توپیره د هر چا احترام ساتل.

۲ غورځنګ پورې اړوند هر اقدام په پوره صداقت او شفافیت اجرأ کول.

۳ یو پر بل مهرباني کول او ګډ افهام تفهیم، ملګرتیا او د همکارۍ دود ته وده ورکول.

۴ د غورځنګ پر هر ملګري د هر ډول لفظي او فریکي برید څخه په کلکه ډډه کول.

۵ د هر چا هغه که د غورځنګ غړی وي او که نه، په هکله د نامناسبه الفاظو د کارولو څخه په کلکه ډډه کول.

٦ د هر ډول شخصي منفعت له پاره د غورځنګ له نوم، منصب او غړیتوب له کارولو څخه په کلکه ډډه کول.

۷ په غورځنګ کې دننه د هر ډول شخصي اجنډا د کارولو څخه ډډه کول.

۸ په غورځنګ کې دننه د هر ډول شخصیت پرستۍ څخه ډډه کول.

۹ په غورځنګ کې دننه د مقام او منصب پر بنسټ د غړو تر منځ له توپیري چلند څخه په کلکه ډډه کول.

۱۰ د غورځنګ د هیڅ شورا او کمېټې د رهبرۍ غړي نه شي کولای چې په رسنیو، ټولنیزو پاڼو او ناستو کې د ملي او سیاسي مسایلو په هکله د غورځنګ د موقف برخلاف څرګندونه  یا تبصره وکړي.

۱۱  په ټوله کې د غورځنګ له اصولو څخه سرغړونه هغه حالت کې رامنځته کېږي چې د غورځنګ غړی غلا یا مالي غبن وکړي، په شعوري توګه د غورځنګ املاکو ته تاوان ورسوي، د بل چا پر شخصیت برید وکړي، کوم هېواد، شخص یاد ادارې ته جاسوسي وکړي، د غورځنګ د اهدافو په ترلاسه کولو کې په شعوري او ارادي ډول غفلت وکړي، د غورځنګ د قوانینو او اهدافو مخالفت وکړي، د غورځنګ یا د افغان ملت له پاره خطر شي، د روغتیا او امنیت په برخه کې داسې عمل وکړي چې د غورځنګ بل غړي ته ګواښ، مالي، معنوي یا فزیکي تاوان پېښ کړي، د درواغو او یا ناسم راپور او رېکارډ جوړ کړي، د غورځنګ له قوانینو او پالیسیو څخه ناسمه استفاده وکړي، د اعتماد څخه ناوړه استفاده وکړي، جنسي ځورونه، اخطار او ګواښ او له تشدده ډک برخورد د غورځنګ د چلند د اصولو خلاف بلل کېږي او د سرغړوونکي سره د همدې اساسنامې په رڼا کې چلند کېږي.

<u>**د غورځنګ د اساسنامې عمومي مادې:**</u>

**نه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د غورځنګ د اساسنامې د تصویب طرزالعمل:

۱ د غورځنګ اساسنامه د تصویب دوې مرحلې لري، عبوري او نهایي.

۲ د اوس له پاره د غورځنګ اساسنامه مرکزي کمېټه د رایو په اکثریت په عبوري شکل تصویبوي.

۳ د عبوري تصویب څخه وروسته دا اساسنامه د غورځنګ پر ټولو کمېټو او شوراګانو نافذېږي. د همدې اساسنامې له مخې ولایتي، د ناحیو، ولسوالیو، او کلیو او ګذرونو شوراګانې او ځانګړې کمېټې جوړېږي چې وروسته شوراګانې خپل منځي ټاکنې ترسره کوي، او د غورځنګ د قوانینو په رڼا کې رهبرۍ شورا ته غړي معرفي کوي.

۴ د رهبرۍ د شورا د جوړېدو سره د غورځنګ اساسنامه د رایو په اکثریت له عبوري تصویب څخه نهایي تصویب ته اوړي.

(۲) د اساسنامې تعدیل:

۱ د اساسنامې د تعدیل صلاحیت د رهبرۍ شورا لري.

۲ د اساسنامې او مرامنامې تعدیل او تصویب د رهبرۍ شورا د اکثریتو رایو پر بنسټ رامنځته کېږي.

**<u>بېړنی او نه پېش بیني شوی حالت:</u>**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) په بېړني او غیر متوقع حالتونو لکه د غورځنګ د مشر لاعلاجه ناروغي، مرګ یا تر دریو کلونو بند/حبس په حالت کې د غورځنګ مرستیال د دریو میاشتو له پاره د غورځنګ د مشرتابه منصب سنبالوي چې په دې موده کې د رهبرۍ شورا د غورځنګ د قوانیو په رڼا کې د غورځنګ مشر ټاکي.

(۲) د مرکزي کمېټې تر پینځوس سلنه د ډېرو غړو تر یوې میاشتې د ډېرې مودې له پاره د بند/حبس په حالت کې رهبرۍ شورا د اساسنامې سره سم د دوی ځای ناستي ټاکي. که چېرې د رهبرۍ شورا تر پینځوس فیصده ډېر غړي تر شړو میاشتو د ډېرې مودې له پاره بندیان کېږي نو ولایتي شوراګانې د یوې اوونۍ به ترځ کې د اساسنامې سره سم د دوی ځای ناستي معرفي کوي.

(۳) په بېړني حالت کې د غورځنګ ټولو شوراګانو او کمېټو په موده کې شپږ میاشتې اضافه والی راتلی شي، خو دا صلاحیت یوازې د غورځنګ مشر لري.

(۴) د غورځنګ د مشرانو او د کمېټو او شوراګانو د رهبرۍ د غړو د بند یا مړیني په حالت کې د دوی د کورنیو د مالي کفالت له پاره غورځنګ ځانګړی طرزالعمل جوړوي.

**<u>د غورځنګ د ټاکنو مېکانېزم:</u>**

**یو پنځوسمه ماده:**

(۱) عمومي اصول:

۱ غورځنګ د جمهوریت پر اصولو جوړ ساختار لري، په همدې اساس د غورځنګ د ټولو شوراګانو او کمېټو غړي د جمهوري ټاکنو په ترځ کې ټاکل کېږي.

۲ د غورځنګ ټاکنې د شفاف او سرې ډېټابېس له لارې ترسره کېږي او د تفتیش یا اډېټ له پاره یې رېکارډ هم ساتل کېږي.

۳ د هرې کمېټې یا شورا د نوماندانو معیار د یادې کمېټې یا شوراګانو د قانون پر بنسټ ترسره کېږي.

۴  د غورځنګ د ټاکنو کمېټه د غورځنګ د ټولو قوانینو او پالیسیو په رڼا کې د ټاکنو د ترسره کولو مسؤولیت لري.

۵  د ټاکنو په هکله د هر ډول څېړنې مسؤولیت او صلاحیت د داخلي منازعاتو د حل کمېټه لري، او د هر اړخیزې څېړنې او تفتیش وروسته د یوې میاشتې په موده کې مرکزي کمېټې ته راپور وړاندې کوي.

(۲)  ټاکنو مهال وېش:

۱ ټاکنو کمېټه د ټاکنو او د څانګړو کمېټو د غړو د انتخاب مهال وېش رهبرۍ شورا ته وړاندې کوي.

۲ په بریالیتوب سره د ټاکنو د ترسره کولو په موخه د ټاکنو کمېټه یو مفصل پلان جوړوي او ټاکنو له پاره د اړینو موادو او امکاناتو لېست چمتو کوي.

(۳) نوماندان:

۱ عمومي نوماندي د غورځنګ په اساسنامه کې د راغلو مادو پر بنسټ کېږي.

۲ د څانګړو کمېټو له پاره د غوره او متخصصو کسانو راوستول او د نوماندانو په لېست کې شاملول.

۳ د مرکزي کمېټې له پاره نوماندېدل د رهبرۍ د شورا د غړیتوب سربېره لوړې زده کړې، تجربه او تخصص شرط دی.

۴ د اړتیا سره سم د مؤقتو کمېټو له پاره نوماندان د غورځنګ مشر رهبرۍ شورا ته د ټاکلو له پاره معرفي کوي.

(۴) سیمه ایيزې (کلي، ناحیې، ولسوالۍ او ولایتونه) ټاکنې:

۱ د ټاکنو کمېټه د رهبرۍ شورا له تاییدۍ وروسته سیمه ایيزو شوراګانو ته د ټاکنو مهال وېش ورلېږي او له چمتووالي څخه يې نظارت کوي.

۲ د ټاکنو کمېټه د هرې سیمه ایيزې شورا له پاره یو فوکل پواینټ ټاکي او د ټولې پروسې وړاندې، په جریان کې او وروسته همکاري او نظارت کوي.

۳  د ټاکنو کمېټه د سیمه ایيزو شوراګانو د ټاکنو له پاره عملیاتي او لوجیستیکي اړتیاوو لېست چمتو کوي او د مرکزي کمېټې له تایید وروسته يې مالي کمېټې ته د اجراأتو له پاره وړاندې کوي.

۴ د سیمه ایيزو شوراګانو فوکل پواینټونه د ټاکنو ټول هارډ کاپي رېکارډ مرکزي ټاکنیزې کمېټې ته لېږي.

۵ د ټاکنو کمېټه د غورځنګ د مشر له منظورۍ وروسته د ټولو شوراګانو نتایج په یوه وار د غورځنګ له وېبپاڼې، اپلیکشن او ټولنیزو شبکو له لارې خپروي.

٦ له ټاکنو څخه وروسته د سیمه ایيزو شوراګانو په ځانګړې ډول ولایتي شوراګانو لومړۍ ناسته یا رسمي غونډه کې د غورځنګ مشر یا د مشر له خوا ټاکل شوی کس د ټکنالوژۍ له لارې ګډون کوي، البته دا غونډې به په ترتیب سره د غورځنګ د دارالانشاء په همکارۍ جوړېږي.

۷ د غورځنګ د اساسنامې سره سم، د کلیو شوراګانې د ولسوالیو شوراګانو، دګذر شوراګانې د ناحیې شوراګانو، او د ولسوالیو او ناحیو شورګانې ولایتي شورا ته او ولایتي شوراګانې د رهبرۍ شورا ته خپل انتخابي غړي معرفي کوي.

(۵) د رهبرۍ د شورا ټاکنې:

۱ د ولایتي شوراګانو فوکل پواینټونه رهبري شورا ته د نوماندانو لېست او مشخصات د ټاکنو د کمېټې سره شریکوي.

۲ رهبري شورا ته نوماندان به د اساسنامې په رڼا کې معرفي کېږي.

۳ ټاکنو کمېټه د ټولو سیمه ایيزو شوګارانو د ټاکنو نتایج په یوه اوونۍ کې رهبري شورا ته اعلانوي.

۴ د ټاکنو په هکله شکایتونه د ټاکنو کمېټې ته ثبت کېږي چې څېړنه او پرېکړه به د داخلي منازعاتو د حل کمېټه په یوه اوونۍ کې کوي.

۵ د نتایجو د اعلان سره سم د رهبرۍ د شورا لومړۍ غونډه په دوو تر دریو اوونیو کې دایرېږي.

(٦) د مرکزي کمېټې ټاکنې:

۱ د ټاکنو کمېټه رهبرۍ شورا ته د مرکزي کمېټې د غړیتوب معیار او شرایطو په هکله معلومات وړاندې کوي.

۲ د ټاکنو کمېټه د رهبرۍ له شورا څخه د نوماندانو لېست ترلاسه کوي.

۳ د رهبرۍ شورا پر ټولو غړیو د مرکزي کمېټې له پاره د ټاکنو کمېټې له خوا معیارونه او شرایط منل الزامي دي.

۴ د رهبرۍ شورا هر غړی د معیار په پوره کولو ځان یا د شورا بل غړی نوماندولی شي، البته د شورا د بل غړي لیکلی رضایت شرط دی.

۵ د ټاکنو د کمېټې لخوا د نوماندۍ درخواست د ردېدو په صورت کې نوماند خپل لیکلی شکایت د داخلي منازعاتو د حل کمېټې ته وړاندې کوي، او د یادې کمېټې پرېکړه نهايي ده چې پر ټولو غړو الزامي بلل کېږي.

٦ د مرکزي کمېټې د غړیو ټاکنه د ځانګړي او پټ ډېټابېس له لارې ترسره کېږي، چې رایه ورکوونکی یوازې یوه نوماند ته د یوه ځل له پاره رایه ورکوي. په ډېټا بېس کې به د هر نوماند بشپړ نوم او انځور وي، او رایه ورکوونکی په یوه کلېک رایه ورکوي چې بېرته نه راګرځي.

۷ د ټاکنو کمېټه نهايي نتایج د رهبرۍ د شورا سره شریکوي او د شورا مشرتابه چې د غورځنګ مشر دی نتایج اعلانوي.

(۷) د غورځنګ د مشر ټاکل:

۱ د غورځنګ مشر د رهبرۍ د شورا له غړو څخه ټاکل کېږي، د رهبرۍ د شورا هر غړی کولی شوي چې ځان د غورځنګ مشرتابه ته نوماند کړي.

۲ د غورځنګ مشرتابه ته نوماند باید د رهبرۍ د شورا حداقل یودېرش سلنه د اعتماد رایې واخلي، او دا رایې پر یوه ځانګړي فورم د لاسلیکونو په شکل ترلاسه کېږي. یاد فورم تر ټاکنو حداقل دوې اوونۍ مخکې د ټاکنو کمېټې ته سپارل کېږي.

۳ د ټاکنو کمېټه د ټاکنو نېټه اعلانوي او د رهبرۍ شورا غړو ته اړین معلومات ورکوي.

۴ ټاکنې د هر ډول بهرني مداخلې او رسنیز پوښښ پرته د غورځنګ په مرکزي دفتر کې د ټاکنو د کمېټې تر نظارت لاندې ترسره کېږي. په یادو ټاکنو کې یوازې د رهبرۍ شورا غړي ګډون کوي.

۵ د غورځنګ د مشرتابه ټاکنې د ځانګړي ډېټابېس او بېلټ له لارې ترسره کېږي.

٦ د شکایت په صورت کې شکایت کوونکی خپل شکایت د ټاکنو کمېټې ته سپاري او د داخلي منازعاتو د حل کمېټه یاد شکایت د یوې اوونۍ په ترځ کې څېړي او حتمي پرېکړه د رهبرۍ د شورا سره شریکوي.

۷ د غورځنګ د مشرتابه د ټاکنو د نهايي نتایجو تر اعلان وړاندې د غورځنګ هېڅ غړی نه شي کولی په دې هکله معلومات د غورځنګ د نورو غړو، رسنیو یا خلکو سره شریک کړي.

(۸) د ځانګړو کمېټو ټاکنې:

۱ د ځانګړو کمېټو ټاکنې د غورځنګ د اساسنامې په رڼا کې ترسره کېږي.

۲ مرکزي کمېټه د ځانګړو کمېټو د غړو له پاره غوره کسان پیدا کوي او د غورځنګ تر غړیتوب وروسته یې د ټاکنو له پاره رهبري شورا ته معرفي کوي.

۳ د کمېټو د غړیتوب له پاره د نوماندانو مشخصات د ټاکنو کمېټه څېړي او نوماندي یې رهبری شورا تایید یا ردوي.

۴ د ځانګړو کمېټو د مشرتابه او منشي توب له پاره کمېټې د ټاکنو د کمېټې د قوانیو په رڼا کې خپل منځي ټاکنې کوي.

(۹) د بهر مېشتو کمېټو ټاکنې د ولایتي شورا د ټاکنو په څېر ترسره کېږي.

کابل، ۱۴۰۰ل کال د وري میاشت

مرکزي کمېټه

باور غورځنګ